

# پښي په پرهر

سراج الدین سراج

پښي په پرهر

سراج الدین سراج



هسې ورته خلق استاد صيب نه وايي په رښتيا استاد دے شپیته کلن سړے چې د سوات د بره سره کوهاټ ته او د کوهاټ د کوزه سره بیا سوات ته په موټر سائیکل تلے راتلے شي نو بیا به ورته هم د موټرسائیکل استاذ نه وايې ؟

په غم کې، ښادی کښې ،په ناسته، په ملاسته ، په لاره چې په زرګونو ناڅېدلو دوستانو ته په فیس بک د سوات د راتلو دعوتونه ورکوي نو فیس بکې استاذ شه کنه! او د سکول مثالي استاذ ورته خکه وایم چې خپل ټول شاګردان ورسره د پلار هسې مینه کوي او چې په تېر عمر د دري کم شپېتوو نه تر شپېتوو دوه سوه صفحې د خپلې مقصدي شیریني او رنګینې شاعرۍ کتاب پښتون قام ته ډالۍ کولے شي او پښې په پرهرونو لګولے شي نو دا بل څوک کیدے شي ه ځ ا د رڼا فکر او سپېڅلو جذبو څښتن سراج الدین سراج دے کنه لکه چې وائي

ښکاري چې ځواني لاړه بوډا شومه
نرم خوراک سخت راباندې ولګي
ځان باندې چې ډېره خواري وکړمه
ښکلے شم خو وخت راباندې ولګي

په درناوي
عزیز مانېروال
ستمبر۱٦ ۲۰۱۵ء

# پهې پهٔ پرهر

سراج الدین سراج

کتاب زما اختیارئې زما

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | پهې پهٔ پرهر |
| لیکوال: | سراج الدین سراج |
| کمپوزنګ: | سراج الدین سراج |
| سرپانه: | کمال خان بابا |
| وړومبے اشاعت: | یو زر (1000) |
| بیعه: | دوه سوه روپۍ (200) |
| د چهاپ کال: | اکتوبر 2015ء |

د لیکوال پته او د اړیکې شمېره:
کلے ماسټر آباد (اساله) تحصیل خوازه خېله سوات خېبر پښتونخواه
ګرځنده شمېره: 03449777120

د موندلو درک: د پېښور او سوات د کتابونو هر لوئے دکان

o o o

# ډالۍ

هغه ټولو پښتنو ته ډالۍ کهٔ د نړۍ په هره برخه کښې ژوند کوي خو چې پښتو وائي، پښتو ليکي ،پښتو لولي او په پټ پښتو پوهيږي۔

پهٔ ډېره پښتنه مينه
سراج الدين سراج
صدر- سوات ادبي الوت
ګرځنده شمېره : 03449777120
نېټه: 10 اپريل 2015 ء



# ترون

د هغه نارژېدلو ارمانونو پهٔ سوي لوي نوم چې ما د خپل وطن د خوار او بې وسه اولس د روښانه سباؤن د پاره پهٔ خپله سينه کښې خوندي ساتلي وو او دي۔ خو لهٔ بده مرغه زما پهٔ ژوندانهٔ پوره نه شول او د ځان سره به ئې د ګور تيارو ته يوسم۔

O O O

د خپلې خوږې مور پهٔ خوږ نوم چې ماته ئې د پښتو ليک لوست ډېر پهٔ ورکوټوالي رازده کړے وؤ . پهٔ شعروشاعرۍ پوهېده او خوښېده ، خو دربغه چې زما دا ليک ئې پهٔ خپل ژوندانهٔ ليدے و ے .

O O O

د خپلې کورودانې پهٔ نوم چې د ژوند پهٔ هر ډګر کښې ، د دغه مزل پهٔ هر پړاؤ کښې ئې زما مرسته هم وکړه او ډاډګېرنه هم .

O O O

د خپلې نازولې لور" نایاب سراج" پهٔ نوم چې زما د پېژندګلوکړې او لړۍ ده او پهٔ ما ځکه ګرانه ده چې زما د زړهٔ ټوټه ده .

O O O

www.pukhto.net

# " لعل پۀ ایرو کښې "

زما چې یاد شي نو داسې به ډېر کم ادبي تقریبات ، دستورې مشاعرې ، محفلونه ، مخ کتنې او یا نور سیمنارونه وي چې سراج الدین سراج به پکښې ګډون نۀ وي کړے. پۀ هر ادبي پروګرام کښې به زما د سراج صېب سره لیدۀ کاتۀ کېدۀ- او زۀ به ددې پښتون او پۀ پښتو شعروادب مئین ملګري ذوق او مینې ته حېران ؤم – چې کۀ هر چرته او هر ځایي به څۀ ادبي غونډه یا دستوره وه او سراج صېب به چا پۀ غوږ وهلے وو - نو دے به د نورو لیکوالانو او مینه والو ملګرو نه مخکښې هلته رسېدلے وو -او خپله حاضري به یې ثابته کړې وه – خو ددې پۀ پښتو شعروادب د جنون د حده پورې مئین ملګري د خلې نه ما کله هم چرته شعر نۀ وو اورېدلے - البته دا وه چې د هر شاعر ادیب او لیکوال ملګري سره به یې خپله پېژندګلو کوله، مراسم به یې ورسره ساتل او چې څومره پۀ پښتو شعروادب مئین وو نو دومره پۀ شاعرانو ادیبانو هم مئین وو – او دا کمال ورته حاصل وو چې د کوم شاعر یا ادیب ملګري سره به یو ځل ملاؤ شو نو پۀ وړومبي نظر کښې به یې د هغۀ پۀ زړۀ کښې ځان له ځایي کړے وو – د تعلق جوړولو چل او هنر یې زده وو او چې د چا سره به یې تعلق جوړ شو نو بیا به یې ورسره د قلم دغه رشته پالله او لاتر ننه یې پالي – سراج صېب خو ما د یو باذوقه اورېدونکي پۀ حېث پېژندۀ خو



ماته د هغۀ د شعروادب سره د مینې اندازه هغه وخت اوشوه کله چې هغه ماته پۀ فون د ملاقات د خواهش اظهار اوکړو – او ما ورته د خپل عادت مطابق د هرکله راشه اووې – د سراج صېب راتلل وو او زما حېراني نوره هم زیاته شوه – ځکه چې هغۀ پۀ وړومبي ځل ماته د یو شاعر او لیکوال پۀ حیث ځان ښکاره کړو او څو شعرونه مې ترې هم ددې وېنا سره واورېدل چې ناز صېب کتاب چهاپ کوم او زۀ غواړم چې تاسو پرې څۀ اولیکئ – او ما چې پۀ وړومبي ځل د سراج صېب نه دا شعرونه واورېدل چې

پۀ ژوند کښې داسې سختې مرحلې راباندې راغلې
حېران یې کړو پۀ واؤرو کښې خولې راباندې راغلې
د سوات د خوار اولس خو څۀ یوه المیه نۀ ده
جنګونه، سېلابونه، زلزلې راباندې راغلې

او یا دا چې

چې د ملک پۀ آبادۍ کښې یې کردار دے
دلته هغه سړے اوږے دے، نادار دے
وطن لُوټ شو اولس هغه شان اودۀ دے
سراج هسې ځان له زړۀ اوخوږ اوزګار دے

نو زړۀ کښې مې وې چې سړے چې هر څۀ چې دے خو د کماله خالي نۀ دے- ځکه چې دلته خو چې څوک دوه کرښې هم تورې کړي نو پۀ خپل نوم پورې بلها لګی اوتړي او پوره پوره کرښه نوم ترې جوړ شي خو چې دا سړے دا دومره وخت څنګه غلے پاتې وو – او لا دا یې څۀ کوې چې اوس هم دا خبره کوي چې شاعر نۀ یم او نۀ ځان د

www.pukhto.net

شاعرانو پهٔ صف کښې شمېرم – خو بس دغه څهٔ مات ګوډ ليکل مې کړي دي اوزړهٔ مې غواړي چې کتاب ترې چهاپ کړم .

ښاغلي سراج صېب خپله مسوده چې( کمپوزنګ يي ورله پخپله کړے دے) ددې وېنا سره ماته حواله کړه چې د خپله نظره يي هم واړوه او د املا غلطۍ راته هم پهٔ ګوته کړه – نو څو پورې چې د نوې املا خبره ده کومه چې اوس زمونږ د نوي کول پهٔ سمه لار د بوتللو او نوي نسل ته صحيح پښتو ښودل دي – او دا د وخت تقاضا هم ده او ضرورت هم ځکه چې کهٔ مونږ ددې خبرې خيال اونهٔ ساتو او خپل نوي نسل ته د سوچه او کره پښتو د ليکلو چل اونهٔ ښايو او ددې سره يي اشنا نهٔ کړو نو يقيناً چې دا به ددې لرغونې ژبې او پښتون قام سره زياتے وي – ځکه چې پښتو ژبه چې خپل د زرګونو کالو زوړ تاريخ لري ، کهٔ پهٔ دې يويشتمه صدۍ کښې هم چې د علم او ټيکنالوجۍ د زده کړې دور دوره ده ، د پښتو ليک دود سم نهٔ شي کوم چې د شلمې صدۍ د ورستۍ عشرې پورې وران ويجاړ او غلط راروان وو نو دا تاريخي پښتون قام به هم دغسې د خپلې ژبې د ليک لوست نه لرې پاتې شي – چې پهٔ نتيجه کښې به يي زيان پښتو ژبې ، پښتو ادب او پښتون قام ته اورسي – نو دا د سراج صېب د پوهې او غټ زړهٔ وړومبے دليل دے چې کتاب چهاپ کوي خو چې پهٔ نوې او صحيح املا کښې چهاپ شي –

څو پورې چې د سراج صېب د شاعرۍ خبره ده نو زهٔ دا منم چې د هغهٔ شاعري به هم لکه د نورو شاعرانو ليکوالانو ټول پهٔ ټوله پهٔ تول پوره نهٔ وي – او چرته چرته به پکښې د بحر ، وزن او فني ادبي خامۍ وي خو تر کومه حده چې ما د ښاغلي ليکوال شاعري اولوسته نو يقيناً چې د چاپ قابله ده – د سراج صېب شاعري کهٔ هر څو پټه وه خو دا نهٔ چېګنې تته وه او ړنده وه – حقه خبره خو داده چې لکه د لعل پهٔ ايرو کښې پټه وه – او آخر دا چې پهٔ ايرو کښې پټه پاتې نهٔ شوه او لکه د لعل يي ځان اوځلوۀ .



د ښاغلي ليکوال د شاعرۍ چې ما څو پورې جاج واغستو نو زهٔ دا خبره پهٔ دعوې سره کوم چې سراج صېب تر ډېره حده د روايتي سټائل نه ځان ساتلے دے او د شاعرۍ خيال ،رنګ او هئيت يي هغه نهٔ دے کوم چې زيات تره د عام شاعرانو وي او هم هغه زاړهٔ روايتي موضوعات لکه د ګل ،بلبل ،زلفو ، شونډو ، سترګو او د جام او د جانان خبرې کوي – کوم چې د شاعرۍ عام او روايتي موضوعات دي او پهٔ ادبي شاعرۍ کښې ورته رومانوي شاعري وئيلے شي – اوس يويشتمه صدۍ ده او لکه د نورو شعبو شاعرۍ هم خپل موضوعات او رنګ بدل کړے دے – زمونږ ليکوال هم د ژوند ډېرې سترې ستونځې ليدلي دي او زغملي يي هم دي – هغه پهٔ خپله خاوره ، خپل وطن ، خپل چاپېريال او خپل سماج باندې ژور نظر لري – او لکه د سپړۍ د اووه ژړندو نه وتلے دے – نو هم دغه د وخت او د حالاتو ناکردې ،د معاشرې وران او وينې وينې تصوير ، ناانصافي ، ظلم ، جبر او ژوند ته د راپېښو کشالو او د ماحول نه اغستے اثر د ښاغلي ليکوال د دردېدلي زړهٔ هاغه احساسات دي چې سراج صېب يي پهٔ دې مجبوره کړے دے چې دغه موضوعات پهٔ خپل تخليق کښې قلم بند کړي – او تر ډېره حده پهٔ خپل دغه کوشش کښې کامياب هم دے – زمونږ ليکوال د نوي دور د نوي تقاضو مطابق خپلو احساساتو ته د شعر جامه اچولې ده او پهٔ خپل ليک کښې يي نوے خيال او نوے رنګ راپېدا کړے دے – او خپلې شاعرۍ ته يي د ځان له جدا لارې ټاکلو کوشش کړے دے.

د سراج صېب د شاعرۍ موضوع او خيال تر ډېره حده د نورو ليکوالو نه بېخي جدا دے او د خپل ليک پهٔ حواله د يو ځانګړي اسلوب څښتن دے – ژبه يي ساده ،اسانه او روانه ده – پهٔ خپل ليک

کښې يې د هر قسم مشکل الفاظو نه ډډه کړې ده – او د تشبيهاتو ، استعارو ، کنايو نه ازاده شاعري يې کړې ده – پهٔ خيال کښې يې جدت شته خو خبره سپينه او نېغ پهٔ نېغه کوي او د لحاظونو او مصلحتونو ښکار شوے نهٔ دے-

زهٔ نور د ښاغلي ليکوال د شعري مجموعې " پښې پهٔ پرهر" او د هغهٔ د مينه والو پهٔ مينځ کښې دېوال کېږمه نهٔ - او دا فېصله پهٔ لوستونکو پرېږدم چې ښاغلے سراج صېب د شعر و ادب پهٔ مېدان کښې څومره پهٔ اوبو کښې دے خو دا خبره ضرور کوم – چې څومره پورې ما لوستے او اورېدلے دے – نو زما دا يقين دے چې کهٔ زمونږ دې ليکوال دغه ادبي سفر جاري اوساتلو نو ډېر زر به ځان د ادب پهٔ بام اوځلوي – او د ډېرو مينه والو پهٔ زړونو کښې به ځان ځايي کړي –

پهٔ ډېره پښتنه مينه
ظفر علي ناز
نېټه: 10 جولائ 2014



## د شپېتو کالو زلمے

د نظر چشمې پهٔ سترګو ، واړهٔ واړهٔ خږ ، سرهٔ او سپين کمزوري وېښتهٔ ، پنځويشت ګېنټې موبائيل پهٔ لاس د سوات د سين ګاونډي زما دغه ښاغلے سپېځلے ملګرے سراج الدين سراج صېب پهٔ مادخپله ځانه ګران دے . شپېتهٔ کلنۍ کښې د تعليم د محکمې نه د ډائرکټر فزيکل ايجوکېشن پهٔ توګه فارغ شو . د محکمې نه د فارغېدو سره يې د خپل بيمار وطن او بيمار قام د رغېدو نسخې راواغيستې او وس يې خپل اولس ته رسول غواړي .

درې کم شپېتو کالو نه پس يې شاعري پېل کړه او د شپېتو کالو پهٔ عمر کښې يې چاپ کوي . نو کهٔ دې کتاب سره مونږ دا نوټ وليکو نو غلطه به نهٔ وي چې " دا کتاب تاسو د خپلې فيملي سره لوستے شئ " ځکه چې دا شاعري د هغه خطرناک عمر نه پس شوې ده . نو ځکه به پکښې خطرناک مواد د نشت برابر وي .

سراج صېب " د شپېتو دےخو د ويشتو " ښخي نهٔ دے . هغه ځکه چې پهٔ شپېتهٔ کلنۍ کښې چې د انسان پهٔ تندي کښې د بد نېتۍ کومې نخښې ښکاره کېږي يا پکښې کوم چرچړا پن ځرګندېږي هغه پهٔ سراج صېب کښې ښخي نشته بلکه نور هم معصوم شوے دے . معصومانه

www.pukhto.net

حرکتونه کوي ، معصومې معصومې خبرې کوي . د خپلو يارانو دوستانو سره غم ښادۍ ته حاضرېږي او د يارانو په ښادۍ خوشحالېږي او په غم خفه
کېږي هم . که دا اووايم چې د شپېتو کالو زلمے دے نو غلطه به نه وي . ځکه چې موبائيل په لاس کله تصويرونه وباسي نو کله ګېمونه کوي نو کله کله په فيس بک ، سکائيپ او ميسينجر د ناليدلو او نا پېژندګلو ملګرو سره په ګېنتو ګېنتو ګپې ډزې لګوي . شاعري مې يې ولوستله . د خپل قام د پاره پکښې ډېر څه شته . ډېرې خوږې او ترسکونې نسخې پکښې شته . چې څوک يې هم ولولي نو بې اختياره به يې د خلې نه دا خبره خېژي چې
" سراج الدين سراج ډېر ښه او خوږ شاعر دے "

انور مانړوال
23 مئ 2014



## سپېځلے شاعر

د پښتو شاعرۍ يو پېژندلے نوم ، ډېر ښه شاعر ، يو نوموړے استاذ د چا د ژوند د نيمې نه زياته حصه چې د ماشومانو د روښانه مستقبل په لارو کښې تېره شوې ده . څوک چې د ښښترو ، چينواؤ چنارونو په فطرتي غېږه د ژوند ساګانې اخلي او د مارغانو په خوږو ترنمي آوازونو کښې سحر د خوبه سترګې غړوي ، دا د سوات د جنتي سيمې سراج الدين سراج صېب دے . چې شاعري يې د پت ، پښتو او مينې يو رنګين تصوير دے .

د خپلې شاعرۍ په زور يې کۀ يو اړخ ته د قام په واکدارانو تکونه کړي دي، چا چې دې وطن له د مايوسۍ او بې وسۍ نه سېوا هيڅ نۀ دي ورکړي نو بل اړخ ته يې د هغه زپلي اولس په پرهرونو د پهې لګولو کار هم کړے دے . شاعري يې ما کتلې او لوستلې ده او زۀ دا په ډاډه زړګي وئيلے شم چې د سراج صېب نه شاعري شوې ده ، کړې يې نۀ ده . اؤ د هغۀ يو يو شعر د هغۀ د سپېځلتيا او د هغۀ د ژوندۍ شاعرۍ دليل دے .

www.pukhto.net

سراج صيب ډېر سپېڅلے ، سپين نيتے او زړۀ سواندے سړے دے . چې کومه خبره يې په زړۀ کښې ده هغه يې په خلۀ راوستې ده . اؤ داخلي انسان يې چې څنګه دے هم هغسې د بهر نه ښکاري او هيڅ دوه رنګي پکښې نۀ ښکاري . او ځکه خو هغه پخپله وايي چې:

ريښـــتيا وېنـــا رانـــه دنيـــا خفـــه کـــړه
هـر څـوک پـۀ مـا پسـې ګيلـې لـه راځـي

خلـــق د خلـــې خبـــره زړۀ تـــه کـــوزې
زمـــا د زړۀ خبـــره خلـــې لـــه راځـــي

تصور مانړوال
صدر
قام قلم صوابۍ
23مئ 2014ء



# سراج د پښتو چراغ

بيان د لوئے خدا ے لۀ خوا انسان ته هغه بې ساري پېرزوينه ده ، چې پـۀ قـران کښـې ئـې يادونـه او زبادونـه شـوې ده. بيـا شـعر خـو د بيـان د سيمې دستار تړلے سردار دے. څومره خوږ دے چې پۀ غوږونو کښې شـپېلۍ غـږوي ، څومره روغـوال دے چې مـات زړونـه رغـوي ، څـومره هنرمنـد دے چـې د اروا وزرې رپـوي او څـومره اغېـزمن دے چـې د زړۀ سترګې رڼوي او غړوي. سراج الدين سراج صيب نېکمرغه دے چې پۀ دغه خائيسته بيان ئې ژبه چليږي. د ډېرې شاتپوَنې وړ پـۀ دې دے چې اوۀ پنځوست کاله ئې د بيان د خوږولو د پاره پۀ چپـه خلۀ خواري وکړه. هغه وخت چې د څلورم او پنځم د کتابونو پۀ کرښو ئې ګوته ګرځولـه ، د پښـتو نظمونـه ئـې پـۀ يـادو يـادول. څنګـه چـې ئـې پـۀ شـونډه د وېښـتو شمېره زياتېدۀ ، دغسـې ئـې د مزغـو پـۀ خزانـه کښـې د پښـتو او اردو د غمـو غمـو شعرونو پانګـه درنېـده او زياتېـده. ددې تـر څنګـه د ادب د خاوندانو سره څنګ پۀ څنګ ګرځېدۀ او کښېناستۀ. تـر اوږدې مـودې چـې ئـې پـۀ خپـل سـپين زړۀ کښـې رنګـين او لـونګين خيالونـه سـم

اوسنجول ، نو د زرينو او ګلورينو شعرونو پهٔ ښېره کښې ئې ترې د پښتو د پېغلې سور سالوګے جوړ کړو. هغه د چا خبره چې زوړ شي نو څهٔ ترې جوړ شي ، يعنې د کار جوګه شي. يا زهٔ به داسې اووېم چې زوړ شي نو سرهٔ ترې جوړ شي. هم دغسې د سراج صېب د ادب سره لهٔ اوږد تړاو نه سرهٔ جوړ شول. اوږدې او پرله پسې خوارۍ ئې د خوږې او پخې شاعرۍ شکل ونيو.

پوهان وائي چې شعر د شعور انګازې دي ، د خائيسته فکر سپينې پلوشې دي ، د ښکلي نيت پرله پورې ننداري دي او د انساني خواخوږۍ سپېڅلې جزبې دي. دغه ټولې ښېګړې د سراج صېب پهٔ وېنا کښې پهٔ دلو دلو پرتې دي. ځکه خو زهٔ پهٔ ډاډه زړهٔ وئيلے شم چې سراج صېب د ريښتوني شعر زېږونکے دے ، نو خامخا د ښهٔ فکر پالونکے دے ، هر رنګ او نسل ته روا درناوے ورکونکے دے ، مينه خورونکے دے او پهٔ ځانګړي توګه د خپل قام د ښې ورځې غوښتونکے دے. هغه پهٔ درسته دنيا مئين دے ، پهٔ خپله ښکلې پښتونخوا مئين دے ، پهٔ پښتو ښهٔ پهٔ ريښتيا مئين دے ، چې لولي ئې ، ليکي ئې او کوي ئې.

د سراج صېب تنقيدی شعور هم د منلو او ستائيلو دے. لهٔ غرهٔ نه هغه غاړې خبره پېژني. کهٔ نن پېژني نو د سبا پهٔ اکرو هم پوهه دے. د خپل قام د نېغوالي او کوږوالي پهٔ حال خبر دے. ښهٔ خبر دے چې پښتون د قامونو تر مينځه پهٔ سيالۍ کښې ولې پاتې او پهٔ ماتې دے. چوپ نهٔ پاتې کېږي ، پهٔ ډېره خوږه او پسته ژبه د خلاصون او پرمختلون لارې او چارې پهٔ ګوته کوي او د يو وېښ وګړي پهٔ حېث د ښې ستائينه او د بدې غندنه پهٔ ځان اخلاقي پور ګڼي.

سراج صېب د توري تول هم پېژني او تال هم. کوم ټکے کوم ځائے ولګوي او کوم ټکي ښنګ پرله پسې کړي ، کوم ټکے پهٔ کومه معنیٰ



کښې پکار کړي او کوم خيال پکښې ښنګه ونغاړي ، پهٔ دې هنر ئې لاس ښهٔ بر دے. نوي خيالونه ايجادول ئې هم د ګس لاس کار دے ،د بېلګې پهٔ توګه برزخ ئې ځکه خوښ دے ، چې پهٔ غزېدلو پښو او پهٔ ډوب خوب اودهٔ شي.

سترے دې نهٔ شي د سراج صېب ليکانے. تت دې نهٔ شي د تخيل الوت ئې. ژوندے دې وي تر اوږدې مودې !

بدرالحکيم حکيم زے
چئيرمين
سوات ادبي ترون
نېټه ـ 2015_06_16

یو سړے دے چې د ژوند په خوشي دشت کښې
پــه ســرو شــګو کښــې د میــنــې ګــلان کــري

سراج صېب زهٔ د ډېر لږ وخت نه پېژنم خو سم یې پېژنم او ځکه یې سم پېژنم چې د هغهٔ په ګفتار او کردار کښې هیڅ تضاد نشته ، بلکه کومه خبره چې په خله کوي هم هغه یې د زړهٔ خبره وي او د داسې خلقو په پېژندلو ډېر وخت نهٔ لږي .

پهٔ تن پوخ ، پهٔ زړهٔ ځوان ، پهٔ خویې حساس ، پهٔ مینه ژوندے ، د اولس پهٔ غم کښې ډوب او د خیال پهٔ نیلي سور ګرځي . پهٔ خپلو یارانو د زړهٔ نه مئین دے خو چې څوک یې پهٔ سترګو ښهٔ نهٔ لږي نو هغهٔ ته هم پهٔ وئیلو کښې هیڅ باک نهٔ کوي او دا د هغوې خوبي هم ده او خامي هم . ځکه خو وایي چې

هــــر چـــا تـــه پـــهٔ درون نظـــر کاتـــهٔ کـــوؤم
مینـــه مـــې پـــهٔ وینـــه کښـــې شـــامله ده
تـــورو تـــه چـــې تـــور او ســـپین تـــه ســـپین وایـــم
دومـــــره اســـــتثنیٰ راتـــــه حاصـــــله ده

د سراج صېب پهٔ سینه کښې د شعر خزانه لهٔ مودو راسې پرته وه خو نهٔ پوهېږم چې ولې یې نهٔ برسېره کوله او دغه بېقرارۍ هغه د



شاعرانو ادیبانو سره پهٔ ناسته پاسته مامور کړے ؤ ، او آخر د هغوې دغه بې قراري د ژبې سر له راغله او چې شاعري یې شورو کړه نو هیڅ کمے پکښې نهٔ ؤ .

د سراج صېب عمر د شپېتوؤ نه اوړېدلے دے خو د شاعرۍ عمر یې ډېر کم دے ، او پهٔ لږ وخت کښې چې د شاعرۍ کوم بام ته رسېدلے دے ، دا د هر چا د وس خبره نهٔ ده .

سراج صېب د چاپلوسۍ ، خودغرضۍ ، چالاکۍ ، منافقت او دوه رنګۍ ښه پهٔ ډاګه غندنه کوي او د اصول پرستو خلقو سره د زړهٔ د کومې نه مینه کوي . د مصلحتونو بیخي نهٔ دے ښکار شوے او خپل مافي الضمیر یې ښهٔ پهٔ ډاګه بیان کړے دے او پهٔ عملي ژوند کښې هم پهٔ دغه اصولو پهٔ سختۍ سره عمل کوي . هر ښهٔ انسان ته د هغهٔ د ښهٔ کردار پهٔ سبب روا درناوے ورکوي او کوم خلق چې پرې ښهٔ نهٔ لګي د هغه خلقو سره بیخي مراسم نهٔ ساتي . ځکه خو وایي چې

زهٔ د هغـــه چـــا صـــفت کـــړم چـــې ســـړے وي
چې سړے نهٔ وي نو څنګ به یې څوک ستایي
داســـې خلـــک مـــې لیـــدلي دي ســـراجه
د غـــرض د پـــاره خـــر تـــه دادا وایـــي

د سراج صېب د شاعرۍ محور پښتون قام دے . هغه د پښتون قام پسماندګي د زړهٔ د تله محسوسوی او هم دغه احساس یې بې قراره ساتي . سراج صېب آرزو لري چې پښتون قام دې د علم و حکمت پهٔ کالو ښائیسته شی او د نړۍ پهٔ قامونو کښې دې لکه د ستورو وځلیږي . ځکه خو وایي چې:

فضيلت پۀ علميت مونـدلے کيـږي
چې محنت کوي هغه خلک درانۀ شي

کۀ د علم پۀ انوارو منّور شول
پښتانۀ بـه حقيقت کښې پښتانۀ شي

سراج صيب غزل ، نظم او قطعه درې واړه ليکي خو پۀ قطعه کښې چې ورته کوم کمال حاصل دے ، هغه هومره کمال پۀ غزل او نظم کښې نۀ لري . زۀ فکر کوؤم چې د سراج صيب شاعري به د لر او بر او خصوصاً د سوات د پښتنو د پاره د فخر او وياړ سبب وي .

پاک رب ته لاس پۀ دعا يم چې الله دې د سراج صيب جذبې دغسې تاندې ، ولولې ځوانې او فکر روښانه لري چې د پښتو ژبې لمنې ته نور ډېر څۀ پېرزو کړي .

پۀ ډېر درناوي
واحد زمان زمان
صدر روڼ سحر پښتو ادبي ټولنه سوات
نېټه : 13 ستمبر 2015



سوات ته د پاکستان سويټيزر لېنډ وئيلے شي . د سوات واورين غرونو ، يخو چينو او دنګو دنګو نخترونو يو داسې شاعرانه ماحول جوړ کړے دے چې د سوات پۀ زمکه يې بلها شاعران پېدا کړي دي. پۀ دغه شاعرانو کښې يو سراج الدين سراج صيب هم دے .

د سراج صيب شاعري ساده کلي واله هم ده ، قامي هم او رنګينه هم . سراج صيب د خپل زړۀ خبرې د قلم پۀ ژبه بيان کړي دي .

د يارانو يار سړے دے او چې کله هم د خوازه خېلې نه پۀ خکته راځي نو ارومرو د قام قلم پۀ ملګرو سلام اچوي .

الله ته لاس پۀ دعا يم چې سراج ملګرے دې الله تعالیٰ تل تر تله خوشحاله لري . آمين .

جهان بهادر لالا
قام قلم صوابۍ
13 ستمبر 2015 ء

www.pukhto.net

# خپله خبره



څنګه به د رب شکرګذار نۀ یم
یوه ځواني مې لاړه بله راغله

زما د شاعرۍ شروع کولو قیصه هم څۀ عجیبه غوندې ده. ما پۀ هغه عمر کښې شاعرۍ کولو ته مټې راونغښتې ، چې نورو شاعرانو عموماً د عمر پۀ دغه پړاو کښې د خپلې شاعرۍ پۀ وجه ډېر شهرت موندلے وي . ما د اووۀ پنځوست کالو پۀ عمر کښې شعر لیکلو ته لاس واچولو او دا دے پۀ دریو کالو کښې مې شعري ټولګے جوړ کړو او د لوستونکو لاسونو ته مې وسپارۀ . زما پۀ خیال ما لۀ ځان سره شاعري لۀ ازله راوړې ده. زۀ چې د څلورم پینځم ذده کونکے ؤم ، نو ما به پۀ خپلو کتابونو کښې راغلي پښتو نظمونه زباني یادول . وروسته مې د پښتو شاعرۍ کتابونه پۀ بازار کښې اخیستل شروع کړل . چرته چې به د پښتو او اردو رسالې زما لۀ نظره تېرېدې ، نو ما به راخیستې او پۀ ډېر شوق به مې لوستې. حافظه الله تعالیٰ ډېره ښه راکړې ده ، دغه وجه ده چې کوم شعر به مې زړۀ ته پرېوت نو زباني به مې یاد کړو. دغسې پۀ زرګونو شعرونه ماته یاد شول. کله چې به یواځې ؤم نو دغه یاد کړي شعرونه به مې لۀ ځان سره زمزمه کول. ددې سره سره پۀ رسالو کښې به مې اقوال زرین لټول او پۀ خپله ډائرۍ



کښې به مې لیکل. دغو هوښیارو خبرو هم زما پۀ ذهن کښې د خیالونو یو طوفان جوړ کړو. ما به ناسته ولاړه هم د شاعرانو ادیبانو سره خوښوله. د دغو مجلسونو هم پۀ ما ډېر ژور اثر وشو. زما زړۀ ئې پخپله شاعرۍ کولو ته مائله کړو. لۀ ټولو زیات چې زما پۀ شاعر جوړېدو کښې د چا لاس دے ، هغه ذات زما خوږه مور ده. هغې پښتو لوستے شوه او زما ئې هم د پښتو لوستو پۀ حواله ډاډګېرنه کوله. هغې د پښتو ژبې او شاعرۍ سره زما د زړۀ مینه راوزېږوله. ما هم دغه مینه ناک روایت ژوندے وساتۀ او خپلې خوږې لور (نایاب سراج) ته مې د خپلې مورنۍ ژبې سره د مینې او خدمت چاپېرچل جوړ کړو. د خوشحال خټک ددې شعر پۀ مصداق چې:

د خوشحال سره کۀ تېر که یو څو کاله
دا د غرۀ خټک به واړه شاعران شي

اوۀ پنځوست کاله چې د شعر و ادب سره نیږدې پاتې شوم ، نو د الله تعالیٰ پۀ مهربانۍ مې ژبه پۀ خپل شعر وئیلو روانه شوه. اتفاقاً ما پۀ یو ادبي محفل کښې خپل یو غزل واوراوۀ، چې ملګرو ډېر خوښ کړو ، دغې ډاډګېرنې ماته لویه حوصله راکړه او ما پۀ باقاعده ډول لیک شروع کړو. زۀ د مهربان خدائے ډېر شکرګزار یم چې پۀ ما ئې د شعرګوئۍ پېرزوینه وکړه او زۀ ئې ددې جوګه کړم چې د خپلې ژبې او ادب ، د خپل قام او وطن خدمت د قلم پۀ ذریعه وکړم. زما پۀ شعر کښې به یقیناً د فن او پیغام پۀ حواله ډېر کمے موجود وي ، خو زۀ ځان ډېر بختور ګڼم چې د خپلې ژبې د یوسف پۀ خریدارو کښې شمار شوم.

سراج الدین سراج

www.pukhto.net

# یادګېرنه

د عزتمندو ملګرو ظفر علي ناز صېب ، انور مانړروال صېب ، تصور مانړروال صېب ، بدرالحکیم حکیم زے صېب ، عزیز مانړروال صېب ، واحد زمان صېب او جهان بهادر لالا يو جهان مننه کوؤم چې زما دې حقیر کوشش ته ئې ډېر پۀ درنه سترګه اوکتل او د خپلو زرينو خيالاتو څرګندونه ئې پرې اوکړه .

ددې نه علاوه د روڼ سحر ادبي ټولنه ، مشال ادبي ټولنه ، سوات ادبي الوت ، دستار ادبي ټولنه ، سوات ادبي تړون ، نوے تېغ پښتو ادبي ټولنه او پښتو نړيواله جرګه د ټولو ملګرو او پۀ تېره تېره د فېس بک د ټولو مينه والو خوا کۀ پۀ وطن دي او کۀ د وطن نه بهر ، د زړۀ لۀ کومي مشکور يم چې زۀ ئې ددې کتاب چاپ کولو ته وهڅولم او ماله ئې پۀ هر قدم حوصله او ډاډګېرنه راکړه .

د خپل ګران او قدرمن ملګري سيد عبد الله شاه صېب پرنسپل ، ګورنمنټ هائير سيکنډري سکول خوازه خېله او ګران ملګري سردار علي خان صېب ، پرنسپل هائير سيکنډري سکول منګلور او ګران ملګري رحمت علي عرف تور خان منګلور او ګران کشر مراد علي ياسين خوازه خېله ، فضل تواب خاکسار شالپين ، مختار احمد مختار د ډوپ ، رسول خان ( ميډيکل سټور، جهان بهادر منګل تهاڼه بونېر ډاکټر محمد دروېش خان، ډاکټر شېر اکبر خان برکت علي برکت اوسميع الله ګران صېب دمنګورې هم يو جهان مننه چې ددې کتاب پۀ چاپ کولو کښې ئې زما ډېره حوصله او ډاډګېرنه اوکړه .



د قدرمن وکيل خېر الحکيم حکيم زے پۀ خصوصي توګه مننه کوؤم چې زما د کتاب کره کتنه يې پۀ ډېره مينه اوکړه او زما لار خودنه يې اوکړه .

ګرانو مينه والو ! ددې کتاب کمپوزنګ ، ترتيب وغېره هر څۀ ما پخپله کړي دي. پدې کتاب کښې چې څومره غزلې ، نظمونه ، شعرونه او قطعات دي ، دا ما د لوستونکو د اسانۍ د پاره د حروف تهجي پۀ ترتيب ايخي دي . بيا هم کۀ څنې قطعه يا شعر د ترتيب نه بهر وي نو د هغې بخښنه غواړم .

ددې نه علاوه کۀ زما د خيال سره د چا مينه وال اتفاق نۀ وي نو هم ترېنه بخښنه غواړم ځکه چې دا زما خيالات دي او ضروري نۀ ده چې زما د هر خيال سره دې هر لوستونکے متفق وي .

چونکه دا زما اولنے کوشش دے ، ځکه زۀ د مينه والو نه توقع کوؤم چې زما غلطۍ ماته پۀ ګوته کړي چې د خپلې اصلاح کوشش اوکړم او پۀ راتلونکې کښې د داسې غلطو نه ډډه اوکړم .

پۀ ډېره پښتنه مينه
ستاسو د قيمتي آراه منتظر

سراج الدين سراج
ماسټر آباد خوازه خېله سوات
موبائيل نمبر03449777120

www.pukhto.net

## دعا

پاکه ربه تل مې ټینګ په خپل ګفتار کړه
د خبرو، نه ، غازی مې د کردار کړه

چې زما د تباهۍ وسیله ګرځی
ما د هغه عملونو نه قلار کړه

مال ، دولت ، جاګیر، بنګلې مې پکار نهٔ دي
د ضمیر پهٔ خاوندانو کښې مې شمار کړه

ربه دا مهربانی راسره اوکړه
د سیرت پهٔ ښکلاګانو مې سنګار کړه

د **سراج** دغه دعا ده ذوالجلاله
پهٔ خپل رحم یې روان پهٔ نېغه لار کړه

O O O



## نعت شريف

رڼا شوه چې زمونږه پېغمبر پهٔ دنیا راغے
رحمت العالمین خېرالبشر پهٔ دنیا راغے

د جهل تیارې لاړې د وحدت دور دوران شو
سردار د جهانونو معتبر پهٔ دنیا راغے

جنګونه،فسادونه،بېهوده رسمونه لاړل
د امن،سکون،مینې پیامبر پهٔ دنیا راغے

د جبر مانۍ ورانې شوې،د ظلم زور اوبهٔ شو
دنیا یې منوره کړه چې نمر پهٔ دنیا راغے

د کفر بتان مات شول،د ظلمت وریځې لاړې
هر خواته خوشحالي شوله اختر پهٔ دنیا راغے

د ظلم تورتمونه ې د مخې سره یوړل
**سراجه** چې د رحم سمندر پهٔ دنیا راغے

O O O

www.pukhto.net

ښکاری چې ځوانی لاړه بوډا شومه
نرم خوراک سخت رابانديږ اولګی

ځان باندې چې ډېره خواری اوکړمه
ښکلې شم خو وخت رابانديږ اولګی

O O

انسانان واړه د يو کالهٔ کوړمه ده
غټ او کچ زمونږ د ذهن پيداوار دے

دا چې څومره بې وسي ، پسماندګي ده
بل څوک نهٔ دي دا نظام يي ذمه وار دے

O O



اے پښتونه اے جاهله مسلمانه
تهٔ به څو پورې د غيرو ګوډاګے يې

خپل پردي کښې امتياز کولے نهٔ شې
بس خو هسې د ړاندهٔ د لاس غرګے يې

O O

اے ناصحه اول دا دنيا جنت کړه
بيا مې بوځه چې پهٔ کوم لوري مې بيايې
دا جنت وطن دې ماته سُور دوزخ کړو
د جنت د باغ ګلونه راته ستايې

O O

www.pukhto.net

ای کاش چې ښکلے یار مې رضا شوے وے نو ښه وه
د اوښکو پهٔ جرګو خو پُخلا شوے وے نو ښه وه

چې عمر له مې نهٔ شو پهٔ نصیب کښې به مې نهٔ ؤ
یو څو لمحو له هم چې زما شوے وے نو ښه وه

چې تا د کړو سترګو پهٔ کړو غشو ویشتمه
افسوس چې دغه وخت کښې پناه شوے وے نو ښه وه

پهٔ خوب کښې خواله راغلو خو چې وېښ شومه نو نهٔ ؤ
ای خدایه چې دا خوب مې ریښتیا شوے وے نو ښه وه

پهٔ ژوند باندې دې یاره جدایي زغملے نهٔ شم
زما د مرګ نه پس کهٔ جدا شوے وے نو ښه وه

ژړل خو غنیمت دے ولې زغم مې مجبوري وه
چې تهٔ رخصتېدې پهٔ ژړا شوے وے نو ښه وه

**سراجه** د مجنون پهٔ شانې حشر به دې نهٔ ؤ
د مینې پهٔ شورو کښې پهٔ شا شوے وے نو ښه وه

O O O O



الله منو، رسول منو، روژې نیسو، نمونځونه کړو
رشوت اخلو، حرام خورو، د الله او رسول نهٔ منو

کتاب د الله منو خو، قسم او تلاوت له
پهٔ دې کښې چې څهٔ لیک دی، هغه واړه اصول نهٔ منو

O O

اوخانده د زړهٔ دنیا مې ورانه که
پرق شه، ګړزَهار شه، تندرونه شه

ښکېل مې که پهٔ پېچ و خم زلفانو کښې
دار شه، هتکړې شه، زنځیرونه شه

O O

www.pukhto.net

## ژوند زما واک يې زما

بد کوؤم کۀ ښۀ کوؤم
خوښه د خپل زړۀ کوؤم

چا کښې خۀ کار نۀ لرم
ځان له چې هر څۀ کوؤم

نن نه مزې اخلمه
غم د سبا نۀ کوؤم

مينه کۀ چا راکړله
تګ به يې پۀ پلۀ کوؤم

رب باندې باور لرم
طمعه د چا نۀ کوؤم



هر رهبر پۀ شاړو سر
اوس به ځان له تلۀ کوؤم

هيخ خۀ کار مې نشته دے
خوشې ګرځېدۀ کوؤم

تا پسې اکثر ژړا
ټوله ټوله شپه کوؤم

ستا خائيست لمبې کوی
زۀ يې ننداره کوؤم

څۀ رنګ به **سراج** باور
ياره ستا پۀ خلۀ کوؤم

O O O O

بيا ئې پۀ کجلو سترګې تورې کړې
ګوره انحراف يې د قانون اوکړو

ځان يې چې سنبهال پۀ آئينه کښې کړو
ربه ستا تخليق کښې يې بدلون اوکړو

www.pukhto.net

## يو شعر

پرون زۀ بېوقوف وؤم چې دنيا مې بدلوله
خو نن پۀ دې خبر شوم چې خپل ځان بدلول غواړي

O

پوهې او شعور پۀ سر اغستے ووم
اوس د لېونتوب شکرګزار شومه

نور مې دا پاستر جهان ليدې نۀ شو
ښه شوه چې د عقل نه اوزګار شومه

O O



O

بيا مې بې لتا نه جدا اُوويستۀ
دا اختر مې هم پۀ ژړا اُوويستۀ

څومره پۀ هنر دې راته اوکتل
مانه دې پۀ سترګو کښې ساه اُوويستۀ

نور يې د زړګي پۀ کور کښې نۀ ساتم
زړۀ نه مې هغه بې وفا اُوويستۀ

خپل ضمير سرکوزے چاته نۀ کړمه
ژوند مې ټول پۀ خپله رضا اُوويستۀ

ستا غمونو زړۀ د **سراج** واغستۀ
غم يې ترې د ټولې دنيا اُوويستۀ

O O O O

www.pukhto.net

## پښتو

پښتو ژبه ده، پښتو پښتون ولي ده
پښتو مينه ده، غيرت دے، ورورولي ده

پښتو ننګ دے، پښتو مرسته د کمزورو
پښتو امن، پښتو پت، پښتو سيالي ده
چې پښتون وي خامخا به مسلمان وي
د اسلام سره يې مينه ازلي ده
هر پښتون به پښتو کاندي، پښتو پالي
سخاوت او مېلمستيا يې مثالي ده
پښتانۀ چې د نفرت پۀ جرنده دل شول
پۀ دې وجه ترېنه تلې سوکالي ده
چې ټوپک خوشبوي لاس کښې قلم نۀ اخلي
مره وره ترېنه ځکه خوشحالي ده

اتفاق کۀ پۀ پښتون کښې را پيدا شو
نو **سراجه** بيا يې ورکه بدحالي ده

O O O O



O

پخوا چې به پۀ چا کښې سړيتوب وۀ نو سړے وۀ
خو اوس دور بدل شو پۀ سپيتوب سړي جوړېږي

دا بله زمانه ده هغه بله زمانه وه
حالات د زمانې د بدلېدو سره بدلېږي

O O

پښه کۀ دې اوخوېږي بيا به پاڅې
خو حوصله خوېدو له مۀ ورکوه

د پاڅېدلو هنر هم ايزده که
خو اول ځان لوېدو له مۀ ورکوه

O O

پۀ رڼا پسې تيارۀ وي، پۀ راحته پسې غم وي
پۀ اختر کښې خوشحالي وي، بله مياشت د محرم وي

کله اوړے، کله ژمے، کله منے، پسرلے وي
کله يخ، کله ګرمي وي، کله جوار کله غنم وي

کله هجر، کله وصل، کله غم کله ښادي وي
دا دنيا د رهټ منګے دے، کله کوز او کله سم وي

ژوند د يار پۀ خوا کښې ژوند دے، بې لۀ ياره ژوندون څۀ دے
نور دې هيڅ پۀ دنيا نۀ وي، خو پۀ خوا کښې چې صنم وي

د رحمان زمانه لاړه، سړيتوب خو پۀ دولت شو
چې پېسه لري پۀ جېب کښې، دلته هغه محترم وي

چې کوم ځاې کښې انصاف نۀ وي، هلته امن امان نۀ وي
يو بې سره چاپېر چل وي، ژړاګانې چم پۀ چم وي

**سراج** ستا پۀ آسره ژوند کړي، پاکه ربه تۀ يې مل شې
هيڅ غمونه به يې نۀ وي، چې ستا رحم او کرم وي

O O O O



پۀ ژوند کښې داسې سختې مرحلې راباندې راغلې
حېران يې کړو پۀ واورو کښې خولې راباندې راغلې

د سوات د خوار اولس خو څۀ يوه الميه نۀ ده
جنګونه، سېلابونه، زلزلې راباندې راغلې

د سرنه پکښې خلاص شو، د عزت نه پکښې خلاص شو
خالقه څۀ سنګينې فېصلې راباندې راغلې

پۀ پته نۀ پوهېږو چې پۀ څۀ ګناه کړېږو
چې دومره د غمونو سلسلې راباندې راغلې

پۀ جنګ کښې د هاتيانو د چيندخو شان ميده شو
**سراجه** داسې ورانې معاملې راباندې راغلې

O O O O

www.pukhto.net

په اکو بکو باندې نه پوهېږم
يوه خبره صفا سپينه کووم
خلق په شوخو اننګو پسې ځي
زۀ د زېړمخو سره مينه کووم

O O

په اوږد سخا مرض د پرېوتلو نه وېرېږم
کرم به د الله وي چې د زړۀ د درده خور شم

د سروې په شان بره بره تلل زما فطرت دے
دا نۀ چې د انګور غوندې د بل په اوګو سور شم

O O



په سپين مخ چې تورې زلفې تار په تار شي
لکه نمر چې په وريځه کښې ايسار شي

دواړه سترګې دې د ميوۀ دوه پيالې دي
چې را اوګورې رګ رګ کښې مې خُمار شي

تۀ چې نۀ يې يو ساعت مې نۀ تېرېږي
خو چې راشې نو زړګے مې په قرار شي

سړيتوب او مروّت چې پکښې نۀ وي
زۀ ئې څۀ کړم کۀ هزار ځله ديندار شي

ننګ، غېرت، پښتو، حيا نه چې عاري وي
مخ يې مۀ وينه **سراجه** کۀ دې پلار شي

O O O O

www.pukhto.net

O

پـهٔ سـر کـړے چـې مـې سـتا د مینـې تـاج د ے
حاصـل کـړے مـې پـهٔ مینـه کښـې معـراج د ے

مـونږ بـه څنګـه د ښـې ورځـې خاوندان شـو
پـهٔ وطـن چـې د بـې هسـه خلقـو راج د ے

اوس د ښـې توښـې نـه وتـے يـم جانانـه
سـتا د حسـن جـوارۍ کښـې مـې ژونـد بـاج د ے

سـتا کوڅـه کښـې مـې واړهٔ پـهٔ کـانو اولـي
ددې کلـي خـو څـهٔ بـل شـانې رواج د ے

نـور **سـراجه** اوسـېدل ورپکښـې ګـران دي
نـهٔ پـوهېږم چـې دا څـهٔ ظـالم سـماج د ے

O O O O



O

پهٔ بې حسه چاپېرچل کښې،ژوند کول داسې مشکل دي
لکـه څـوک چـې پـهٔ ازغنـه لاره بـې پېـزاره ګرځـي

نـهٔ نظـام نـهٔ انتظـام شـته،بې رسـوخه خـوار ذلیـل دي
چـې د چـا اثـر رسـوخ دی،هغـوې بـې مهـاره ګرځـي

O O

پـهٔ خیـال کښـې د جانـان د دیـدنونو مـزې اخلـم
د هجـر پـهٔ تـورتم کښـې د رنګونـو مـزې اخلـم

کـهٔ نـهٔ راځـې نـو خبـر د ے ، تصـور دې مالـه بـس د ے
مشـغوله مـې سـاتي ، سـتا د لوظونـو مـزې اخلـم

O O

www.pukhto.net

# حوصله

پــــهٔ شــــېبو بــــاران ورېــــږي
تنهــــايي ده تــــوره شــــپه ده

کور کښې تېل شته نهٔ ليتکے شته
پــهٔ کوټــه کښــې ډيــوه مــړه ده

زول طوفــان دے آســمان برېښــي
ويــــره ترهــــه راخــــوره ده

واورې غرونــو بانــدې او شــوې
پــــهٔ تنــــدي زمــــا خولــــه ده

دا لا ځنګــــه کېفيــــت دے
دا لا ځنګــــه مرحلــــه ده

پــهٔ دې ترهنــده ســاعت کښــې
رب راکــــړې حوصــــله ده

O O O



O

پــهٔ مــا بانــدې خــوارۀ لګــي دا ځنــې ځنــې خلــق
ســم پښــې مــې پــهٔ زړۀ لګــي دا ځنــې ځنــې خلــق

پهٔ قد باندې کهٔ هر څومره د سروې پهٔ قامت وي
پهٔ خويې خصلت مې نهٔ لګي دا ځنې ځنې خلق

دا زړۀ مې راته وايي سر او مال پرې صدقه کړه
چې ګورے زما څهٔ لګي دا ځنې ځنې خلق

چې مينه،ورورولي ،وفا ، اخلاص ورپکښې نهٔ وي
پــهٔ شــرق بانــدې دې اولګــي دا ځنــې ځنــې خلــق

**سراجه** چې تضاد يې پهٔ ګفتار ،کردار کښې نهٔ وي
د غــرۀ هــومره درانــهٔ لګــي دا ځنــې ځنــې خلــق

O O O O

www.pukhto.net

پــهٔ دروغ وېنــا مــې ژبــه ترټــرې شــي
پــهٔ ریښــتیاؤ بانــدې خلــق خفــه کېــږي

دا پــهٔ څنګــه عجیبــه فضــا کښــې اوســم
حـق حېـران یمـه چـې اوس بـه څـهٔ چـل کېـږي

O O

پهٔ ژوند کښې د روښانه سباؤن نه بې پرواه شه
خوراک کوه، کار مهٔ کوه، کتې به درنه جوړ شي

کهٔ عقل، شعور، پوهه دې پهٔ ذهن راسوارهٔ کړل
خبر شه چې د اوښکو منګوټې به درنه جوړ شي

O O



پهٔ محفل کښې خواله راغله، دا یې غوږ کښې راته اووې
هــیڅ مــې نــهٔ وئېــل لالیــه، رقیبــان ســوزول غــواړم

د خندا نه ورته شین شوم، ما هم غوږ کښې ورته اووې
دا ادا دې مالــه بـس ده، نـور بـه څـهٔ لـهٔ خدایـه غـواړم
چې ئې سترګې رانیزدې کړې، زما سترګو ته وَئېل یې
ستا د سترګوآئینه کښې، خپلې سترګې لیدل غواړم
ما وَئیل چې تهٔ مې ساه یې، تهٔ زما د زړهٔ دنیا یې
ګلې تهٔ کهٔ زما نهٔ شوې، د الله نه اجل غواړم
خپلې اوښکې یې قابو کړې، دا یې غلې غوندې اووې
د تهمت د ویرې چپ یم، پهٔ سرو سترګو ژړل غواړم
ما وئېل دواړه د یو بل یو، چې تر څو پورې مو ژوند وي
پــهٔ غــزل غــزل څــوانۍ دې، غزلونــه لیکــل غــواړم

د **ســــراج** د زړهٔ ارمانــه، د ســراج د درد درمانــه
چـې تـهٔ نـهٔ یـې زهٔ بـه نـهٔ یـم، درتـه دومـره وئېـل غـواړم

O O O

www.pukhto.net

پۀ وېښه خواله نۀ راتله، بېګا پۀ خوب کښې راغله
ناڅاپه هغه مسته دلربا ، پۀ خوب کښې راغله

د ورځې د سماج لۀ تهمتونو ويرېدله
اوده چې شومه، شنه شوه د خندا ، پۀ خوب کښې راغله

د غرۀ هومره احسان يې د راتلو راباندې اوکړو
زما خو طمع نۀ وه پۀ ريښتيا ، پۀ خوب کښې راغله

پۀ خُلۀ باندې ګونګې شومه پخېر يې رانه هېر کړو
زما د اُمېدونو تمنا ، پۀ خوب کښې راغله

د هجر پۀ تيارو کښې د اُميد بله ډيوه شوه
روښانه شوه زما د زړۀ دُنيا ، پۀ خوب کښې راغله

**سراج** يې پۀ مستۍ کښې د سينې سره سينه کړو
پري د کوهِ قاف نه، پۀ هوا پۀ خوب کښې راغله

O O O O



پۀ خوب کښې د کعبې پۀ لور کۀ دواړه تلې نۀ يو
تۀ ماته حاجي وايه زۀ به تاته حاجي وايم

کۀ دواړه د ادب د الف ب نه خبر نۀ يو
تۀ ما خلقو ته ستايه زۀ به تا خلقو ته ستايم

O O

پۀ سپين مېدان سپينه خبره کوه
کۀ پۀ چا ښه کۀ پۀ چا بده لګي

O

پۀ ژړا دې خلاصېدل د مرګ نه نشته
دا يو څو ورځې ژوندون پۀ خندا تېر کړه

غم پۀ شګو خوشحالي پۀ تيګو ليکه
د غمونو انديښنو وختونه هېر کړه

O O

www.pukhto.net

تا کۀ څوک د حسن پۀ زور پېژني
ما زما د مینې پۀ تور پېژني

دا پتنګ ته پته وي چې سوزمه
ځي د اجل غېږې له اُور پېژني

تل به وي میشته د نورو زړونو کښې
څوک چې د زخمونو ټکور پېژني

ډېر کۀ لېوني د یار غمونه دي
راشي د ماښام سره کور پېژني

ستا **سراج** پۀ تکه توره شپه کښې هم
تا ستا د پائیلو پۀ شور پېژني

O O O O



تا وئېل چې زۀ به درشم
او ما ټول کلې خبر کړو
چې لالې مې راروان دے
خو رانغلې، زۀ خفه شوم
او ګیله مې درته اوکړه
نو تا بله وعده اوکړه
او ما بیا کلې خبر کړو
شپې او ورځې مې شمېرلې
بیا رانغلې دروغجنه
اوس زمونږ د کلی خلق
ماته وايي دروغجن يې
تۀ دروغ دروغ وعدې کړې
دروغجن مشهور زۀ شم

O O

www.pukhto.net

تر کومې به مو ذهن پۀ وهمونو باندې تړي
تر څو به لېوني پۀ زنځيرونو باندې تړي

دوخت جادوګرانو مو بينا سترګې ړندې کړې
پټې راله د سترګو پۀ سرونو باندې تړي

تر څو به دا پاستر نظام پۀ مونږه مسلط وي
احساس به راله څو پۀ تدبيرونو باندې تړي

عجيبه دوه رنګي ده چې مو څوک پرهر پرهر کړي
هغه راله دسمالې پۀ زخمونو باندې تړي

پېريان د يويشتمې صدۍ اوس کم عقل نۀ دي
ملا به يې اوس څنګ پۀ تعويزونو باندې تړي

د جبر پۀ مانو کښې سازشي خلق صلاح شول
اولس له خلې د جبر پۀ تارونو باندې تړي

**سراجه** د پښتون بچے به کلک لکه سندان وي
چې مور يې پۀ سېزنۍ کښې پښو لاسونو باندې تړي

O O O O



O

پښتانۀ به څنګ پۀ وړاندې باندې لاړ شي
دماغ نۀ لري پۀ خپله ککرۍ کښې

سياست او د مذهب پۀ معاملا کښې
متفق دي د رائيونډ پۀ مشرۍ کښې

O O

پۀ خپل کلي کښې د بل پۀ رضا ژوند کړو
پۀ خپل کور کښې پۀ قلنګ باندې اوسېږو

چې زمونږه د سرونو سوداګر دي
د هغه خلکو پۀ ننګ باندې اوسېږو

O O

www.pukhto.net

تورتمونه دي، وريځې دي، سيلۍ ده
د وهشت بلا ولاړه په بلۍ ده

هر يو ګل د ګلستان ئې ريزمريز کړو
وربدلې پرې بې رحمه شان ږلۍ ده

د وطن زلمي خفه دي، پېغلې ژاړي
ګډ په وير دي ګلالې کۀ ګلالۍ ده

په ګلشن کښې د خزان دور دوران دے
مړاوي مړاوي دي کۀ ګل دے کۀ کلۍ ده

مونږ پۀ شا ځو خلق مخکښې مخکښې درومي
خوار خراب شو دنيا ټوله پۀ سيالۍ ده

چې ترې څۀ جوړول غواړې ترې جوړيږي
د پښتون ختمه په اصل کُلالۍ ده

دا بلا به پېژندل غواړي **سراجه**
چې قاتله د اولس د خوشحالۍ ده

O O O O



O

په هستۍ کښې به دې يار وي
چې نيستي راشي بدل شي

دولت اوګټه سراجه
دا ټول خلق به دې خپل شي

O O

په څۀ وخت کښې اودۀ شمه فکرونو لبونے کړم
غريب له پۀ کار نۀ ده چې د مينې کاروبار کړي

د ورځې د معاش لۀ غمه ښکته بره کيږم
چې شپه شي ستا غمونه سرخوړلي مې ايسار کړي

O O

تهٔ زما پهٔ سر باندې دنیا اوپېژندې
دا خبره ښه اوشوه، چې ما اوپېژندې

ما دې پرونے بې رخی ویستې وه لهٔ زړهٔ نه
ښه شوله چې نن مې پهٔ رښتیا اوپېژندې

سترګې دې ښکاره وې مخ دې پټ وپهٔ نقاب کښې
ګلې ما د سترګو پهٔ مُسکا اوپېژندې

زهٔ د ژوند د سختو ساعتونو احسان مند یمه
ما ورپکښې سترګې د هر چا اوپېژندې

مهٔ پتېږه یاره، پهٔ سَوونو کښې دې پېژنم
ما **سراج** د لرې نه پهٔ شا اوپېژندې

O O O O



تهٔ چې راته داسې خندنے اوسې
یو جهان مننه بریالے اوسې

خدا ے دې د تودو بادونو اوساته
عمر له خندان شې پسرلے اوسې

حق ګټل د وینې قربانې غواړي
دې له به سرتېره، لېونے اوسې

ستا خندا د ژوند پهٔ مزو پوهه کړم
ښاد اوسې، خوشحاله شې ژوندے اوسې

خامخا به خپل مرام ته اورسے
زغل کښې د ژوندون کهٔ ګړندے اوسې

څومره چې اوچته حوصله لرے
دومره بوډاتوب کښې به زلمے اوسې

نوره پښتو مهٔ کړه د **سراج** سره
خپل یې کړه، تر کومې به پردے اوسې

O O O O

www.pukhto.net

تا ويلي وو چې در به شم جانانه
ورځې تېرې ، مياشتې تېرې شوې ،کال تېر شو

زما سترګې پۀ ژړا ژړا ړندې شوې
پۀ ګريوان مې پۀ شبو پشکال تېر شو

O O

ترهېدلې هوسۍ اوسو پۀ ځنګل کښې
چار چاپېر رانه لېوان او شرمخان دي

خدايه کله به دا بده ورځ پۀ شا شي
لوے وارۀ د هغه ورځې پۀ ارمان دی

O O



تۀ چې نۀ راځې صنمه
مړ به شمه ستا لۀ غمه

څو چې ساه راکښې غړېږي
نو غمونه به دې ورمه

دا خبره زما مرګ دے
بيا بيا مۀ وايه چې ځمه

ستا پۀ وصل باندې پايم
ستا پۀ هجر باندې مرمه

بېګا ياره ستا پۀ ياد کښې
لکه شمعه سوزېدمه

www.pukhto.net

پۀ خوراک مې څۀ کار نشته
زۀ خو ستا غمونه خورمه

د نازونو نه دې زار شم
اداګانې دې منمه

اے زما د سترګو توره
اے زما د زړۀ مرهمه

**سراج** ځان سره ګنړم
کۀ کښېنمه کۀ پاڅمه

O O O O

ټول عمر مې تېر پۀ مزلونو شو
بیا مې هم منزل تراوسه اونۀ موند

چانړ مې کړه دنیا ذرې ذرې شومه
ما ورپکښې خپل تراوسه اونۀ موند

O O



O

جائېداد راسره شته دے ، نۀ روپۍ راسره شته دے
اخلاص ، مینه ، وفا دلۍ دلۍ راسره شته دے

ګرېوان مې تار پۀ تار دے خو د مینې لېونے یم
د مینې ، وروروولۍ ډکه جولۍ راسره شته دے

O O

چې تر څو پورې لۀ یو بله وېزار یو
تر هغې پورې به داسې خوار وزار یو

نا پوهۍ رابانده سمې چارې اوکړې
د حالاتو پۀ پنجره کښې را ایسار یو

O O

www.pukhto.net

ټوله شپه مې
ستا په ياد کښې شوګيره کړه
تر سحره اوده نه شوم
سحر ته مخې له راغلې
او تپوس دې رانه اوکړو
ستا دا سترګې ولې سرې دی؟
ما وئيل خوږ دی
ته خاموش شوې
پوهه نه شوې
او په خپله مخه لاړې
زه د ځان سره ګويا شوم
زه به بيا بېګا له وېښ يم
ته به ښه خوبونه اوکړې
او چې سبا مخې له راشې
نو هم دا به راته وائې
ولې ! سترګې دې ښې نه شوې
ددې سترګو غم دې اوکه
چرته ښه ډاکټر له لاړ شه
چرته ښه ډاکټر له لاړ شه

O OO



چې ملګري په يو ځايې کښې سره غونډ شي
دې محفل ته په فارسۍ کښې بزم وايي

د ادب د هر يو صنف خپله معنيٰ وي
ځنې خلق قصيدې ته نظم وايي

O O

چې مې ياد کړې په سر سترګو به درځمه
چې مې نه يادوې ښنګ به درله درشم

ته چې مانه داسې لرې لرې ګرځې
زه به هم درنه جانانه مروَر شم

O O

www.pukhto.net

جانانه ستا خبرې پۀ ما پښې پښې لګي
دا ستا شونډې شکرې پۀ ما پښې پښې لګي

پښتون يمه پۀ خاوره سر شيندل زما فطرت دے
د خپل وطن سندرې پۀ ما پښې پښې لګي

پۀ يو نظر کتو دې لۀ جهانه بې پرواه شم
ستا مړې سترګې کافرې پۀ ما پښې پښې لګي

خندا دې دومره ښکلې ده چې ما لۀ ما نه ورک کړي
غصه دې ستمګرې پۀ ما پښې پښې لګي

د سترګو چې مې کله رارواني شي ساه واخلم
دا اوښکې ملغلرې پۀ ما پښې پښې لګي

چې کله د بلۍ پۀ سر پۀ خپلو ښکلې مستي کړي
هغه دواړه کونترې پۀ ما پښې پښې لګي

**سراج** چې ئې کړي تېرې پۀ خندا د يار پۀ خوا کښې
لمحې وي بختورې پۀ ما پښې پښې لګي

O O O O



چرته کښې ښادي ده خنداګانې دي
چا کړه غمونه ژړاګانې دي

دلته د جزا پۀ طمع مۀ اوسه
ټولې سزاګانې سزاګانې دي

مونږ نه پسرلي خزان تروړلي دي
شنډې ارمانونه،آرزوګانې دي

خدا ے دې د تودو بادونو اوساته
تاته مې بس دومره دعاګانې دي

شپه يې د رڼا ورځې نه جوړه کړه
زلفې دې کۀ تورې بلاګانې دي

زۀ به پکښې کمه کمه ستايمه
خوښې مې ستا ټولې اداګانې دي

رب دې د **سراج** پۀ ظلم مۀ نيسه
تاته يې بخښلي خطاګانې دي

O O O O

www.pukhto.net

چې د نورو استحصال اوکړي مالدار شي
حقیقي برخه یې دوه ګزه کفن شي

د دنیا د ژوندون دغه حیثیت دے
خاوره ، خاوره شي په خاوره کښې دفن شي

O O

چې نران د کومو خلکو مشران شي
هغه خلک د زمري غوندې نران شي

کۀ زمري وي خو چې مشر یې ګیدړ شي
خوار خراب شي ټول د سیلمې ګیدړان شي

O O



چې ایمان یې په عمل وي زنده باد وي
چې د حق د پاره مړ شي ارواښاد وي

ځان او مال چې د وطن نه صدقه کړي
هغه خلق باوقاره، بامراد وي

چې د بل په غم غمجن وي سربالا وي
د قیامت پورې به داسې سړے یاد وي

چې د حق مرسته کوي راست بازه اوسي
د غمونو اندېښنو نه به آزاد وي

خدایه داسې مشران به پیدا نۀ شي ؟
چې په قام ئې پېرزوینه د اولاد وي

د هغۀ نه به څوک څنګه متاثر شي
چې په قول او عمل کښې ئې تضاد وي

د اولس په وینو پایي چې **سراجه**
وي لېوان خو په جوسه د آدم زاد وي

O O O O

www.pukhto.net

چل د اوسبدو مې پکښې زده نهٔ کړو
داسې چاپېرچل کښې پېدا ، لويې شومه

ما له څهٔ کول وو او ما څهٔ اوکړل
اوس ايله پهٔ دې خبره پوهې شومه

O O

چې د وېښ ضمير خاوند وي ترې زارېږم
کهٔ هر څوک دے خو زما د سترګو تور دے

زهٔ سراج ورته پهٔ بده سترګه ګورم
کوم سړے چې بې ضميره، حرام خور دے

O O



چې تر څو پورې پهٔ مونږ کښې ځان ځاني وي
پهٔ دې خاوره به د وينې ارزاني وي

چې د نورو د خېرات پهٔ طمع ژوند کړي
د هغه قومونو څهٔ زندګاني وي

چې کوم ځائے کښې سل بېکاره يو پکار وي
تباهي د داسې خلقو يقيني وي

چې هم مونځ کړي هم ئې فکر د پېزار وي
داسې خلقو کښې به څهٔ مسلماني وي

د هغو مخونه تور وي چې محنت کړي
چې تياره خوري څهرې يې نوراني وي

هغه خلق به د لوږو سره مخ وي
چې سوکړه وي هم ئې زمکه باراني وي

چې يې ترس پهٔ ذي روح نهٔ وي **سراجه**
پهٔ هغو به تندرونه آسماني وي

O O O O

www.pukhto.net

چې څه دې په زړګي وو زما زړۀ ته رسېدل
ستا سترګو زما سترګو ته په سترګو کښې خندل

خبر يي ! چې رانغلې په ما څنګ وختونه تېر شول؟
رودونه مې پۀ مخ باندې د اُوښکو بهېدل

تيارۀ وه، توره شپه ، چپه چُپيا وه او زۀ ويښ ووم
يادونه دې په ما لکه د پرخې ورېدل

مُسکی شوې،په شغ تېره شوې، په خُله دې هيڅ اونۀ وې
چې څه دې وو په زړۀ کښې ما دې سترګو کښې ليدل

هجران،اوښکې،آهونه تول زما په برخه ليک وو
ډېر څه مې په دې لړ غوندې ژوندون کښې اوليدل

زۀ څومره لېونے ووم ، ساده ووم **سراجه**
چې ښکلي مې د ځان سره د زړۀ کور کښې ساتل

O O O O



چې دنيا کښې کله نوے بم تيار شي
د پښتون پۀ خواره سيمه راګزار شي

مونږه اوس هم د غفلت پۀ خوب اودۀ يو
پښتانۀ به هلۀ ښاد شي چې بيدار شي

O O

## يو شعر

چې منزل ته د احسان پۀ رڼا رسم
پۀ تيارۀ کښې د کمره ګزار ښۀ يم

O

www.pukhto.net

چې د چا د لاسه ټول عمر آزار شو
عجیبه ده، د هغه خلقو نه زار شو

د لېوانو نه د رحم طلبګار یو
نۀ هوښیار شو، نۀ امکان شته چې هوښیار شو

کۀ پۀ مونږ کښې د شعور بوټي زرغون شي
د حکمت پۀ ښکلاګانو به سنګار شو

لا تر اوسه مو منزل پۀ ګوته نۀ کړو
کۀ هر څو د کمرانو نه ګوزار شو

چې د علم پۀ انوارو منّور شو
د ټوپکو، تماچو نه به قلار شو

اول خوار وو خو غېرت ضمیر مو وېښ وۀ
خو **سراجه** اوس د هر څۀ نه اوزګار شو

o o o o



چې د ذات پۀ دائره کښې بندیوان شوې
مسلمانه چې د ځان شوې نو پۀ ځان شوې

کۀ د بل د درد احساس درکښې پېدا شو
د غمونو، اندېښنو نه پۀ امان شوې

قناعت کۀ درته رب پۀ زړۀ کښې کېښود
پۀ تش لاس باندې نواب شوې هم سلطان شوې

کۀ شاکر شوې د زړۀ کور دې تاج محل دے
بې لۀ تخته، بې لۀ تاجه شاه جهان شوې

چې د زړۀ پۀ صدق خبر د عالم غواړې
مبارک شه بیا خو ستورے د آسمان شوې

چې د حق د پاره سر او مال قربان کړې
پۀ دنیا او آخر دواړو کښې کامران شوې

کامیابي به دې **سراجه** پۀ نصیب شي
مقتدي کۀ د نبي آخر زمان شوې

o o o o

www.pukhto.net

چې د ژوند په تېرولو نه پوهېږي
هغه خلق د کمَرو نه غورزېږي

کم ظرفانو ته د زړۀ خبره مۀ کړه
غوږ منګي باندې اوبۀ نۀ ايسارېږي

ډېر په نېغه لاره مۀ ځه ځان خبر که
نېغې اونې غوځولو له خوښېږي

هغه خلق کامیابې طرفته نۀ ځي
چې مايوسه شي د ستونزو نه ويرېږي

د وريځې خويي خصلت ځان کښې پېدا که
چې په ګلو ، هم په غنو راوريږي

هوښيارانو ته د خوني حاجت نۀ وي
کم عقلان په نصيحت کله سمېږي

کوَر، کدو د ځان نه جوړ نۀ کړې **سراجه**
چې د نورو په اوږو باندې سورېږي

O O O O



O

چې مې ستا د مخ کتاب مطالعه کړو
ټول لوستلي کتابونه رانه هېر شو

لامې اوس هم د زړګي په کور کښې اوسي
هېر مې نۀ شوې کۀ بلها کلونه تېر شو

O O

چې نۀ يې د زړۀ وران کنډر ته ناست يمه او ژاړم
ډيوې مې د زړګي پۀ کور کښې بلې شي چې راشې

پۀ ذهن مې د غم تورې وريځې راخورې وي
تيارې پۀ رڼاګانو کښې بدلې شي چې راشې

O O

www.pukhto.net

O

چې د ملک په آبادۍ کښې ئې کردار دے
دلته هاغه سړے اوږے دے، نادار دے

چې په ملک او په ملّت يې څۀ کار نشته
هم هغه زمونږه مشر دے، واکدار دے
د هغه وطن اولس به خوار خراب وي
چې پيشو پکښې په وازدو څوکيدار دے
دا چې څومره ناپوهي، پسماندګي ده
بل څوک نۀ دي حکمران يې ذمه وار دے
مونږ به څنګه د ښې ورځې خاوندان شو
حکومت راباندې تل د دُکاندار دے
د بدلون لاوه د زمکې سر له راغله
درنګ ساعت له زلزلې ته انتظار دے

وطن لُوټ شو اولس هغه شان اوده دے
**سراج** هسې ځان له زړۀ اوخوږ اوزګار دے

O O O O



O

چې وار د ځوانۍ تېر شي زلميتوب کله راځي
په بېرته بيا سړي له ماشومتوب کله راځي

جانان راته ويلي دي چې دربه شم په خوب کښې
د ډېرې خوشالۍ نه ماله خوب کله راځي

ګرېوان مې تار په تار شو، هوش حواس مې لا په ځايې دي
حېران يم چې به ماله لېونتوب کله راځي

پښتون لا پوهه نۀ دے د حيا عزته خلاص شو
په دۀ کښې چې به ګورے سړيتوب کله راځي

چې لږه ګوزاره کوي لري حوصلې لوړې
زلمے به وي هغه له بوډاتوب کله راځي

**سراجه** ما خو ټول عمر د خپل زړۀ وينې څکلي
زما په غوڅو شونډو مسکيتوب کله راځي

O O O O

ثوک چې د انسان د ښو پۀ طمع شي
دا يې عقيده پۀ الله کمه شي

يو الله آسره کړه او بيا اوګوره
هره يوه چاره به دې سمه شي

غم د ژوندانۀ سره تړلے دے
مرګ باندې د هر غمه بې غمه شي

هغه خلق ثومره بد نصيبه وي
ثوک چې بې جانانه بې صنمه شي

نن درسره ياره سپيناوے کووم
خبر دے دا ټول کلے دې راجمعه شي

بيا **سراج** له پس د مرګه مۀ راځه
ځۀ به يې مزه وي چې بې دمه شي

O O O O



چې يو ځل پۀ انتخاب کښې بريالے شي
د معاش لۀ فکره عمر له آزاد شي

چې سَملي اسمبلي پۀ خوب کښې وينې
چې وينښېږي نو خوبونه ئې برباد شي

O O

چې څۀ دې وي پکار پۀ دکانونو کښې خرڅېږي
پۀ کلو کښې کۀ نۀ وي، پۀ ښارونو کښې خرڅېږي

**سراجه** ځان له واخله کۀ پېسې درسره اوشوې
خواخوږي نن صبا پۀ بازارونو کښې خرڅېږي

O O

www.pukhto.net

O

ځوک چې د قانون روګرداني کوي
مونږ باندې هغه حکمراني کوي

وژني مې خو جرم راته نه ښايي
ګوره ورته ځومره مناني کوي
هسې د شيطان نامه بدنامه ده
دا خلق پخپله شيطاني کوي
مړۀ کۀ شي په زړونو کښې ژوندي اوسي
ځوک چې د قامونو وداني کوي
مينه او وروري او قرباني، اخلاص
زړونو باندې راج کړي، سلطاني کوي
ستا په زړه کښې څه دي، ماته پته ده
سترګې د زړګي ترجماني کوي

نمونځ کوي **سراجه**، رشوت هم اخلي
هم نيسي روژه، مسلماني کوي

O O O O



O

ځوک چې زړۀ لري د غوښې په سينه کښې
څنګ به اوخاندي په داسې زمانه کښې

ژوندانۀ په ژوندانۀ ستومانه کړي
بې قصوره يو بندي په جېلخانه کښې

لۀ غربته مو ګونې دي زيړې زيړې
ليدې نۀ شو خپل مخونه آئينه کښې

وسائل د څو غټانو په قبضه دي
برخه نۀ لري غريب په خزانه کښې

کۀ په دواړو کښې هر يو په بل ګوزار شي
خو ښخېږي به چاقو په هندوانه کښې

www.pukhto.net

د زېړي پۀ رنځ غريب اولس اخته دے
جراثيم يې پرورش کړي پۀ اينه کښې

کۀ هر څو زمونږ قامي ژبه أردو ده
خو فارسي وايو پۀ قومي ترانه کښې

مُلاجان وايي دا لوبې د تقدير دي
ګوتې مۀ وهه د خدا ے پۀ کارخانه کښې

د خُلې خوند به دې **سراجه** برابر شي
ځان له جوړه کړه چکني پۀ پودينه کښې

O O O O

ځنې خلق نۀ پردي شي نۀ خپليږي
در پۀ غاړه به مدام د غاړې غور وي

خوشحاليږي نۀ کۀ غوښې د زړۀ ورکړې
پۀ وړه وړه خبره مرور وي

O O



ځوک مړۀ ځوک سودايان شول ځوک د غرونو لېونی شو
چا ښۀ پۀ مزه اوخوړه د شين بېرغ پۀ سېوری

پۀ ټولو وسائيلو د يو څو تنو قبضه ده
هغه به پرې عېشونه کړی اولس دې ورته ګوری

O O

څوک ځان ذرې ذرې کړی خو ناکامه،نامراد شي
څوک ښۀ پۀ مزه اورسی منزل ته،مزې اوکي

سراجه هسې خوار شوې نۀ د دين نۀ د دُنيا شوې
چا دلته مزې اوکړې،څوک به هلته مزې اوکي

O O

www.pukhto.net

O

څوک د چا د ظلم زوره کړه يوسي
ځنې خلق د پېغوره کړه يوسي

ته چې نۀ راځې يادونو ته دې وايه
چې زما د زړۀ د کوره کړه يوسي

چې جنت وطن کښې لوږو سره مخ شي
ناچاري يې کړي بې کوره کړه يوسي

د هغه مئين په زړۀ به څۀ تېرېږي
چې د خوږ جانان لۀ توره کړه يوسي

دا د کرکې نتيجه وي بل څۀ نۀ وي
چې خفه شي ورور د وروره کړه يوسي

دا دنيا به وي **سراج** به پکښې نۀ وي
يوه ورځې به تر ګوره کړه يوسي

O O O O



O

څۀ چې راته ښکاری دا ليدے نۀ شم
زړۀ مې چې څۀ غواړی نو کوے نۀ شم

هر يو بار پۀ سر باندې زغملے شم
پېټے د احسان پۀ اوږه وړے نۀ شم

څۀ د عجيبه ختې نه جوړ يمه
چا ته پۀ لالچ ښکته کېدے نۀ شم

ورځ پۀ هلو ځلو باندې تېره شی
بيا د شپې پۀ کټ کښې سمېدے نۀ شم

پښې مې شوې تنهاکې د منزل پۀ لور
ښکاری چې مرام ته رسېدے نۀ شم

www.pukhto.net

ویرې د تهمت مې اوښکې اوچې کړې
سم پۀ هټکو هټکو ژړېدے نۀ شم

دې نظام د اوښکو منګوټے کړمه
ځان باندې شکی شم لېونے نۀ شم

زۀ **سراج** تل سپینې سپینې وایمه
ځکه دې سماج کښې اوسېدے نۀ شم

O O O O

حسد لمبه کړې، ایره کړې یو
عمر له د نورو پۀ سپرلو سوزو

مونږه خپل غمونه دومره نۀ سېزي
څومره چې د بل پۀ خوشحالو سوزو

O O



O

ځان ته به پۀ څۀ سبب غاوره شم
څۀ یم خو د خاورو یو پنډوکے یم

دلته لږو ورځو له راغلے یم
څۀ اوبۀ څۀ غوښه څۀ هډوکے یم

O O

ځان چې مُصلحان او سترګه ور ګڼي
دا دنیا هغه خلقو بې امنه کړه

خپله پۀ قلاره باندې ژوند کوي
لوبه یې زمونږ پۀ خاوره ګرمه کړه

O O

www.pukhto.net

څه د بې وفا حسن کانې اوکړې
څه راباندې لوبې زمانې اوکړې

اوسوزېد خو مينه يې ثابته کړه
ځان باندې څه چارې پروانې اوکړې
يو د مينې يار مې پېدا نه کړلو
هسې مې بې شمېره يارانې اوکړې
اوس به پرهرونه زما خله اوکړي
زخم يې نرۍ نرۍ دانې اوکړې
رانغلې پوهېږمه چې نه راتلې
څه له دې دا دومره بهانې اوکړې
ډېرو د وطن دولت په بده کړو
خېټې يې د قام په خزانې اوکړې

جوړ مې کړو غزل د خپلو اوښکو نه
سترګو مې **سراجه** دُردانې اوکړې

O O O O



ځينې خلق په دولت پسې په دَو دي
ځينې ځينې په شهرت پسې په دَو دي

داسې هم شته بل ته خېر رسول غواړي
څوک د بل په هلاکت پسې په دَو دي
څوک په ذکر په اذکارو کښې مشغول دي
نور څه نه وينې جنت پسې په دَو دي
څوک د خوارو استحصال اوکړي شته من شي
په مزو او په راحت پسې په دَو دي
څوک د ښکلو په ديدن پسې رنځور دي
د پۍ مخو په صحبت پسې په دَو دي
څوک د ډېرې ناچارۍ نه مسافر شي
شپه او ورځې په محنت پسې په دَو دي

د **سراج** په نيز هغه د قدر وړ دي
چې د خوارو په خدمت پسې په دَو دي

O O O O

www.pukhto.net

ځـــان د کبـــر جنـــو نـــه پـــۀ ځنـــګ ســـاتم
نـــۀ ورتـــه ســـلام نـــۀ اشـــاره کـــوؤم

څوک چې زمـا خـوښ وي ډېـر يـې قـدر کـړم
کرکــه ، مينــه دواړه پــۀ ښــکاره کــوؤم

O O

ځـان وړوکـے کـړه چـې ژونـد دې ښـۀ تېرېـږي
خوشـحالي کـۀ نـۀ وي غـم تـه خوشـحالېږه

پـۀ هـر حـال کښـې د ژونـدون نـه مـزې اخلـه
د ماشـــوم پشـــانې مـــم تـــه خوشـــحالېږه

O O



# حق تلفي

حـــق د ټولـــو ورونـــو مشـــر ورور اوخـــوړ
کلـــه يـــې پـــۀ چـــل کلـــه پـــۀ زور اوخـــوړ

وروره زمـــونږ نـــوره وروری نـــۀ کېـــږی
زۀ مســـافرو تـــا رانـــه کـــور اوخـــوړ
اوس خـو بـه پـۀ سـپين مېـدان حسـاب کـوو
خـدايګو کـۀ يـو خـس دې رانـه نـور اوخـوړ
دلتـــه د تورســـرو حـــق تلفـــی کېـــږی
ډېـرو پکښـې مـال د لُـور او خـور اوخـوړ
مـونږه يـې پـۀ وينـو اوبـۀ خـور اوکـړو
بـــاغ رانـــه بيزو ، ګـــډو سمســـور اوخـــوړ
شـــپه د ښـــاپېرکو بختـــوره شـــوه
مـړ شـو چـې تينـدک پکښـې شـمکور اوخـوړ

زوے يـې شـو **ســـراجه** پـۀ ګولـو غلبېـل
څـومره سـخت ګـزار پـۀ زړګـی مـور اوخـوړ

O O

www.pukhto.net

O

خپل ځوک دے پردے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه
هاغه ځوک دے، دے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه

هغه قام ژوندے وي چې پهٔ ژوند کښې بدلون راولي
مونږه کښې ژوندے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه

هر ځوک دا دعویٰ کوي، مالي ددې چمن يمه
ګل ځوک دے، ازغے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه

وروستو وروستو ګورو، قافلې رانه پهٔ وړاندې ځي
دلته ګړندے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه

څنګه مغربي تهذيب د زړهٔ پهٔ سترګو اومنم
پلار يې ځوک دے، زوے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه



مونږه لا نهٔ قام يو نهٔ لا مشر زمونږ مشر دے
ګډې يو شپونکے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه

پېغلو سونډي پرې کړل او زلمو برېتونه اوخريل
ښځه ځوک، سړے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه

ما **سراج** تر ننه د چا خيرې ګرېوان اونهٔ ليد
مونږ کښې لېونے ځوک دے، تراوسه پوهه نهٔ شومه

O O O O

خپل احساس راله زړهٔ اوخوږ ، خوب خندا يې راله ورک کړل
د شپې نهٔ راځي خوبونه ، د فکرونو پهٔ ټال زانګم

چې زياتے چا سره کيږي ، زهٔ ولاړ يم ورته ګورم
د بتيار د بت نينه شم ،د کاسې نه بهر دانګم

O O

www.pukhto.net

ځان د تکبر غرور نه وساته
خاوره يي په خاورو کښې به خاورې شي

ورک به شي د نمر په تاؤ به ويلې شي
هر څومره که ستر شي غر د واورې شي

O O

ځواني لاړه وس ريپړ ، پيپړ ، چيچړ شوم
په رنګونو لګولو به څه ځوان شم

دغه فکر مې خوبونه تختولي
هسې نه چرته په بل باندې تاوان شم

O O



خپله برخه مې کړه تېره زندګي
په راستۍ رانه اونه شوه بندګي

زه په داسې وحشي دور کښې پېدا شوم
چې شيوه ده د انسان درندګي
ما په هوش کښې دا ناسازې ليدې نه شوې
ځکه اوشوه رانه دلته رندګي
خدايه ساه دې رانه واخله چې اوزګار شم
ليدې نه شم نوره داسې ګندګي
د دنيا قامونه بره بره خېژي
د پښتون برخه نېستي پسماندګي
دلته هم د مصا ييبو سره مخ يو
هلته هم راته پرته شرمندګي

**سراج** ستا نه د پښتون د پاره غواړي
ربه ! پوهه او ذهني باليدګي

O O O O

www.pukhto.net

خپل غمونه وړې شمه هم ستا غمونه وړې شم
غم سره بلد یمه بلها غمونه وړې شم

سترې ژوندانۀ د هرې ستونزې سره مخ کړم
بې د بل د مرستې نه تنها غمونه وړې شم

O O

خلق هوښیار شول دوه رنګی خوښوی
پۀ زړۀ یوه او پۀ خلۀ بله کوی

**سراج** لا هغسې ساده باده دے
څۀ چې کوی د زړۀ د تله کوی

O O



خدایه دې دنیا ته چې راغلے یم
د پرو پۀ زړګي باندې داغلے یم

نۀ پۀ خپلو تلو باندې اختیار لرم
نۀ چا پۀ راتلو کښې تپوسلے یم
ژوند سره مې غورزې پرزې اوکړلې
څومره حوصله مې ده ښاغلے یم
څوک چې مې د زړۀ پۀ غوښو اوساتل
هغو پۀ لمبو باندې سېزلے یم
هسې خلق وایي چې ژوندے یمه
ژوند پۀ ژوندانه باندې وژلے یم
ستا د ناکردو جواب کولے شم
بس خو څۀ خبره ده چې غلے یم

څو به مې دا قام خدایه بې وسه وي
دغه یو احساس **سراج** خوړلے یم

O O O O

www.pukhto.net

O

خلق وائي چې په ښکولو خدا ے مئين دے
زړۀ مې ډېر په دې خبره مطمئين دے

قسمونه راته څۀ له خورې جانانه
سل په سله زما ستا په خُلۀ يقين دے
په خوږ والي کښې د يو بله سيوا دي
د يار شونډې دي، کۀ ګوره، کۀ ګبين دے
زۀ پرې څکه د خپل مال او سره تېر يم
پت پښتو لري، خوږ ژبے دے، حسين دے
د هار مياشت ده، سرۀ غار مۀ، تود ه هوا ده
بهر مۀ اوځه جانانه ماسپخين دے
وي اشراف چې د اشرافو سره ګرځي
چې ملګرے د کمين وي نو کمين دے

زۀ **سراج** د چا په شکل پسې نۀ ځم
ترې زار ېږم چې په زړۀ، په باطن سپين دے

O O O O



O

خپل حساس ضمير په سر اغيستے وؤم
اوس د لېونتوب شکر ګزار شومه

نور مې دا پاستر جهان ليدې نۀ شو
ښه شوه چې د عقل نه وزګار شومه

O O

دلته زۀ د داسې طبقې غړے يم
حق چې په رشوت او يا په سوال اخلي

داسې مقتدره طبقه هم شته دے
څوک چې په ناحقه پردے مال اخلي

O O

www.pukhto.net

خواله چې مې ښکلې جانان نهٔ راځي
زړهٔ له مې بېخي اطمینان نهٔ راځي

سوال چې ئې په پیر بابا منظور شولو
اوس په هغه پېغله پېریان نهٔ راځي
کوم زړهٔ چې د بل په غم غمجن اوسي
هغه زړهٔ له چرته خفګان نهٔ راځي
څهٔ ښهٔ دې رایاد کړم چې دې اوژاړم
ستا د یو خبرې ارمان نه راځي
لاړو د سوکړې سره مې عمر شو
ستا د احسانونو باران نهٔ راځي
رِند د شیخ په خواه کې ناسته نهٔ کوي
خواله د رِندانو شیخان نهٔ راځي

سپین و ښېته ښکاره شول د **سراج** په مخ
اوس یې په پوښتنه یاران نه راځي

O O O O



خوب ستا په مړوند ، یقین مې نهٔ کېږي
بې لهٔ تا نه ژوند ، یقین مې نهٔ کېږي

یوځل چې د زړهٔ آئینه ماته شي
وابه خلې پېوند. یقین مې نهٔ کېږي

ټول خوندونه لاړل، ستا د تلو سره
پس لهٔ دې نه خوند ، یقین مې نهٔ کېږي

ډېر څهٔ راسره اوشول، هُوښیار نهٔ شو
څوک به واخلي پند ، یقین مې نهٔ کېږي

ستا د بې رُخۍ ، **سراج** ته پته ده
زهر به شي قند ، یقین مې نهٔ کېږي

O O O O

www.pukhto.net

خوږ ژوندون چې مې د چا د سره زار کړو
دا زړګے راله هغه خلقو ازار کړو

زما مرګ له ستا ساده حسن پوره وو
ځان دې څۀ له دومره ستړے پۀ سنګار کړو

پرېږدۀ دغسې شلېدلے ګرېوان ښۀ یم
چې د ښکولو پۀ لوظونو مې اعتبار کړو

د دوران پېټے مې اوغورزو لۀ سره
د جانان غم مې پۀ خپلو اوږو بار کړو

لېونتوبه **سراج** ستا شکرګزار دے
ښۀ دې اوکړو د مزغو نه دې اوزګار کړو

O O O O



د برزخ او د قیامت پۀ مینځ کښې ښه بلها موده ده
شوګیرو یمه زېلے، پوره خوب به پکښې اوکړم

شعور پوهې لېونے کړم، داسې ښه اوشوه ملګرو
کۀ نور هر څومره ژوندون وی، لېونتوب به پکښې اوکړم

O O

د دنیا بازار کښې داسې خلق هم شته
ورکوي زهر د ګوړې پۀ بدل کښې

چې د کرکې غلاظت لري پۀ زړۀ کښې
پۀ والله کۀ یې پۀ ډېره مینه خپل کښې

O O

www.pukhto.net

خېر دے مۀ راځه جانانه، ستا يادونه ماله بس دي
هر ارمان دې ناپوره وي، اُمېدونه ماله بس دي

د راتلو لوظ دې اوکړو، خو پالل يې درته ګران وو
څومره خوند د انتظار وو، ستا لوظونه ماله بس دي
کله شين کله وريځ وي، کله اوړے، کله ژمے
پاکه ربه! ستا دا ښکلي، موسمونه ماله بس دي
نۀ د زرو طلبګار يم، نۀ د زور غصب قايل يم
پۀ خپل رب مې بهروسه ده، پښې، لاسونه ماله بس دي
د ښکلا تُخم دې اونوست، پۀ څلور کونجه دنيا کښې
ددې ښکلو د مخونو، ديدنونه ماله بس دي
د اولاد پۀ خوړو موړ شوم، د معاش فکر مې نشته
کارخانې مې پکار نۀ دي، دا څيزونه ماله بس دي

زۀ **سراج** کۀ ګناه ګار يم، بيا هم طمعه د جنت کړم
تۀ رحمان، رحيم، کريم يې، دا نومونه ماله بس دي

O O O O



تن زما، سينه زما، زړګے زما
ګوره! هغه مسته يې واکمنه ده

هره ورځې وائي نن به درشمه
هره ورځ سر کوزې، مختورنه ده

نۀ کووم د چا نه ګيله نۀ کووم
دا د تندي کرښه مې دُشمنه ده

ښکلې ده، نازکه ده، ګلرنګه ده
ځکه خو مغروره، کبرجنه ده

لا ستا د وصال پۀ طمعه ژوند کووم
لا د زړګي دشته مې نوجنه ده

څه **سراجه**! څه ترې، دلته څۀ کوې
دا دنيا مکاره، فريب جنه ده

O O O O

www.pukhto.net

## پښتون

د چینډخ غونډې کوهي کښې چې اوسېږو
خامخا به په رڼا پسې ړندېږو

خپل کلتور او خپلې ژبې نه په شا شو
مور مو مړه شوه اوس به چاته راغونډېږو

اتفاق او اتحاد له مینځه لاړل
داسې قوم شو چې په جر بانډې مستېږو

د تعلیم سره مو کلکه دُشمني ده
ټوپک اخلو په قلم بانډې شرمېږو

حجرې شاړې، ګودرونه مو میرات شول
ځان ځاني شوه اوس به خامخا ورکېږو

بې عزته شو رسوا شو په جهان کښې
دا په دې چې په ډالر بانډې غولېږو



کور مو وران، جمات ویجاړ، پټي مو شاړ شو
ګورے! کله به په ځان بانډې پوهېږو

د سامراج د دلالانو په مېله کښې
د ټېپرو، د مولو په نرخ خرڅېږو

د هر کوره دوه درې تنه مسافر یو
په ډوډۍ پسې د غرونو پناه کېږو

ښه پوهېږو چې تاوان طرف ته درومو
ضد چې اونیسو بیا کله په شا کېږو

په پېسه بانډې ورور وژنو، تربور وژنو
دغه وجه ده چې غېرو ته پرزېږو

نه مو مشر، نه رهبر، نه رهنما شته
ځان له ځان له د ډولکي په شان غرېږو

په دنیا کښې خو **سراجه** ماړه نه شو
مرګ چې راشي نو په خاورو به مړېږو

O O O

O

د روښانه صباؤن په طمعه طمعه
تمامي ژوندون مې تېر شو په تيارهٔ کښې

دې حالاتو داسې سوے لوغړن کړم
لکه اوسوزي لرګي په تنارهٔ کښې

O O

د روزې غم کښې سحر نه تر ماښامه
هرې ستونزې ته چمتو او تيار اوسم

چې ماښام ستړے ستومانه کور ته راشم
ټوله شپه د غلو د وېرې بېدار اوسم

O O



O

د خزان موسم چې راشي
ګلان اورېږي فنا شي

چې تيارې له مينځه اوځي
بيا به هله سپين سبا شي
د قام بده ورځ چې وينم
نو غمونه مې سېوا شي
ژوندون تېر شو په تورتم کښې
خدايه کله به رڼا شي
دې حالاتو ته چې ګورم
حوصلې مې وارخطا شي
چې د ځان په وير اخته شي
له جهانه بې پروا شي
څوک چې غم د سبا نه کړي
بې عزته شي، رسوا شي

د **سراج** کمال به منې
چې خفه شي په خندا شي

O O O O

www.pukhto.net

د زړهٔ پهٔ کورَ کې کښې مې ساتلې چې مې خوښ وې
چې زړهٔ مې درنه بد شو اوس مې سر ته اوختې

پهٔ زړهٔ کښې مې محفوظ وې اوس به پړمخې رالوېږې
خطا شولې چې دومره دننګ کمر ته اوختې

O O

د عقل ، شعور پوهې خاوندانو له سُور أور دے
دا سیمه د بې هسه بې ضمیرو خلقو کور دے

چالاکو ، زوره ورو پکښې ښهٔ عېشونه اوکړل
د ژوند د تېره ولو هنر دلته چل او زور دے

O O



د ژوند سپرلے مې د اجل خزان ته اورسېدهٔ
د مرګ خبر مې بې وفا جانان ته اورسېدهٔ

بیا به د چا سره د ظلم تصور نهٔ کوي
د درد احساس کهٔ مې د زړهٔ درمان ته اورسېدهٔ

د نېغې لارې لارَوي پهٔ تیندکونو سر دي
د کږو لارو مسافر بوستان ته اورسېدهٔ

څوک شول د زمکې تل ته کوز د کاهلۍ پهٔ وجه
څوک د محنت پهٔ برکت اسمان ته اورسېدهٔ

دنیا د سائینس، ټیکنالوجۍ پهٔ زور پهٔ بره لاړه
پښتون ایله د ماموني داستان ته اورسېدهٔ

زهٔ به ترې اخلمه د خپلې بې وسۍ انتقام
**سراجه** لاس کهٔ مې د وخت ګرېوان ته اورسېدهٔ

O O O O

www.pukhto.net

د سترګو نه مې اوښکې بهېدلې تۀ چې نۀ وې
د هجر لمحې کله تېرېدلې تۀ چې نۀ وې

خاموشه خاموشي به وه جهان به تول اوده وو
دا سترګې به مې دواړه غړېدلې تۀ چې نۀ وې

جانانه څۀ خبر يې! پۀ ما څنګ وختونه تېر شول؟
چړې مې پۀ زړګوټي ښخېدلې تۀ چې نۀ وې

پۀ تکه توره شپه، توره تيارۀ کښې به جانانه
ډېوې ستا د يادونو بلېدلې تۀ چې نۀ وې

خوبونو کښې به لاړمه لۀ ځانه به پردے شوم
زړې زړې قيصې رايادېدلې تۀ چې نۀ وې

**سراجه** د زړګي پۀ کوړکي کښې مې ميشته وې
دا ستا د راتلو لارې مې څارلې تۀ چې نۀ وې

O O O O



د غم درياب ته دې ورواچوئلم
زۀ دې لاهو کړم تۀ ژوندے اوختې

منم د وخت سره بدلېږي خلق
خو تۀ د وخت نه ګرندے اوختې

O O

د قام د بې هسۍ به درته څۀ وايم ملګرو
اغيار يې غولوي خو د خپل ورور خبره ناوري

کارونه د پېغور کوي ، پېغور زغملے نۀ شي
ټوپک باندې دې اولي ، د پېغور خبره ناوري

O O

www.pukhto.net

O

د شــکل نــه د هــر شــي د قیمــت انــدازه لــږي
گفتــار نــه د ســړي د شخصــیت انــدازه لــږي

دا تهیـک ده چې پـهٔ سترګو الله چاتـه نـهٔ ښـکاریږي
تخلیــق نــه یــې پخپلــه د قــدرت انــدازه لــږي

چې دوست وي ورتـه مـهٔ وایـه چې دا حاجت مې سر کړه
دوســتانو تــه د دوســت د ضــرورت انــدازه لــږي

دا نـن چې د هر چا سترګو کښې غنې کېږي
ددې نـــه د پښـــتون د اهمیـــت انـــدازه لـــږي

چې کور ته درله راشي او تا ستا پهٔ کور کښې وژني
**ســـراجه** دې نــه ســتا د شــرافت انــدازه لــږي

O O O O



O

د ظلــم ، غصــب کرکــې ، فرېبونــو پــهٔ ســماج کښــې
مـــزې ، چرچـــې ، اختیـــار د زوره ورو خلقـــو وي

د مینې ، ورورولۍ ، عـدل و انصاف پـهٔ چاپېریـال کښې
عـــزت ، تـــوقیر ، تعظـــیم د ســـترګه ورو خلقـــو وي

O O

د حســـاس زړګـــي د لاســـه خـــوارو زار شـــوم
د حـــالاتو پـــهٔ تنـــور بانـــدې ســـوزېږم

چـــې ورکـــوټې وؤم بـــې غمـــه بـــه اودهٔ شـــوم
وس د خـــوب پـــهٔ ګولـــو هـــم نـــهٔ اوده کېـــږم

O O

www.pukhto.net

د عمر د سپرلي پۀ مازيګر اوړېدم
د ستړي ژوندانۀ پۀ هر ډګر اوړېدم

جامه شته، نۀ پېزار اونۀ پۀ جېب کښې يې پېسه شته
ددې وطن د ورو پۀ اختر اوړېدم

دا څۀ راسره اوشول او دا چا راسره اوکړل
د سوات د تباهۍ پۀ هر منظر اوړېدم

د شپې د چا پۀ ياد کښې لکه شمع سوزېدمه
د ګل پۀ پاڼه پرخه شوم سحر اوړېدم

نن بيا راله سُرخو د اخبارونو اوښکې توې کړې
د قام د بدحالۍ پۀ هر خبر اوړېدم

**سراجه** چې بچي يې پۀ ديدن پسې ړاندۀ شو
پۀ هغه بې وطنه مسافر اوړېدم

O O O O



دلته به دولت پۀ محنت نۀ خو پۀ هنر ګټې
بيا دغه دولت هضمول ځان له لوې هنر غواړي

ګيره کړه اوږده ، برېتونه اوخريه ، پارسا کړه ځان
خلک کردار نۀ خو بل پۀ شرع برابر غواړي

O O

دلته کښې کۀ خاندو او کۀ ژاړو خو مړۀ کېږو به
هلته به ژوندي يو کۀ هر څو مرګ ته لېواله يو

څۀ چې د ازل پۀ تخته ليک وي نو رارسي به
څومره سادګان يو تدبيرونو ته خوشحاله يو

O O

www.pukhto.net

O

دلتــــــــه راج د زورَورو
دا ســــــــماج د زورَورو

د خوارانو استحصال خو
احتيــــــــاج د زورَورو

بــې وســـى د غريبــانو
مــوج او مــاج د زورَورو

وينه توي د بې ګناه شى
تخــت او تــاج د زورَورو

انقــلاب د خمينـــى دے
ښـــهٔ عـــلاج د زورَورو

پـهٔ مکرونـو بانـدې پوهـه
بــس **ســراج** د زورَورو

O O O O



O

د مخ د سور تنور سره يې شونډو له رنګ ورکړو
سـبزي مـې پـهٔ سـکروټو ،د لمبـو نـه مـې أوباسـي

پهٔ ژوند باندې يې زهٔ د هرې ستونزې سره مخ کړم
پـهٔ مـرګ مـې متهې نغـاړي د اوبـو نـه مـې أُوباسـي

O O

د مينــې،ورور ولــۍ او خوشــحالۍ وختونــه لاړل
غمونـــه،ژړاګانې دي،مـــاتم دے،اســـوېلي دي

د کرکې،دُشمنۍ،حســـد ،لالچ فصـــلونه ربــــو
زمـونږ نـه چـا پـهٔ زور بانـدې تروړلـي پسـرلي دي

O O

www.pukhto.net

د هجران يوه گهړۍ لکه د کال شي
د هوا غوندې وخت تېر شي چې وصال شي

چې زړگے د جدايۍ پۀ تنور سوزي
پۀ گرېوان د ترمو اوښکو پشکال شي
زما زړۀ باندې بلها داغونه جوړ کړي
کوم رانجۀ چې ستا پۀ غونډه زنه خال شي
د هغه اولس به گورے څۀ انجام وي؟
چې دروغ او چالاکي پکښې کمال شي
من سلويٰ د حرام خورو پۀ نصيب وي
حلاليان پۀ ټُوک ډوډۍ پسې حلال شي
د دنيا سره سيالي کولے نۀ شم
رواجونه مې پۀ لاره کښې د ېوال شي

پۀ نړۍ کښې يې **سراجه** د خندا کړو
د واکمنو بې ننگۍ ته چې مې خيال شي

O O O O



د چا محل کښې چراغان بلېږي
څوک پۀ جونگړه کښې ډيوه نۀ لري

خودکش چې نۀ جوړېږي څۀ به کوي
چې پۀ جېبونو کښې پېسه نۀ لري

O O

دکاندار سره مې نۀ لگي يارانو
ددۀ مينه د زيان ، گټې پۀ اساس وي

زۀ سراج د هغه خلکو نه زارېږم
چې بې طمې پکښې مينه او اخلاص وي

O O

www.pukhto.net

دا چې اننګو کښې مې شوخي نشته
دا په دې وطن کښې خوشحالي نشته

مینه ترقۍ له مینځه اوړې ده
توري برګې ورکې شوې لوګي نشته
چرته چې پېسه ده خنداګاني دي
هلته ژړاګانې اسویلي نشته
ځان باندې بیا دومره خواري مه کوه
دلته نظر پانه، سپېلني نشته
ځمه چرته بل طرفته کډه وړم
دلته زما برخه پسرلي نشته
هلته اوسېدل مې زړګے نۀ غواړي
چرته چې ښادي نشته، مستي نشته

نن دې **سراج** ځکه لېونے نۀ کړو
خال دې د رنجو په اننګي نشته

O O O O



دا چې سترګې مې د وینې په شان سرې دي
سباکړې مې په وېښه باندې شپې دي

خنداګانې خوشحالۍ له مېنځه لاړې
زمونږ زړونه اوس د مړو اديرې دي

د وصال په طمعه طمعه به سبا شي
د هجران لمحې کۀ هر څومره اوږدې دي

په هر ځاے کښې د ځنګل قانون چلیږي
زمونږ کلي، کۀ بانډې، کۀ ښارېې دي

دا چې مونږ په ښاده ورځ پسې ړانده شو
نور څۀ نۀ دي راپسې د چا خیرې دي

اوس د ښکلو د وفا په طمع نه دے
**سراج** کړي په پۍ مخو تجربې دي

O O O O

www.pukhto.net

دا استحصالي نظام د خوارو استحصال کوي
چا پکښې مزې اوکړې د چا خبره ورانه ده

څوک د لوړې مړۀ شول څوک ځربېړي د سندا پۀ شان
دا قيصه د ډېرې زمانې نه راروانه ده

O O

ددې وطن نظام رانه يو دوه دې خطا کړي
د ورځې مې آرام شته نۀ د شپې اودۀ کېدے شم

شپه ورځې پۀ سوچونو پۀ فکرونو کښې اخته يم
نۀ دلته اوسېدې شم، نۀ ترې بل خواه تښتېدے شم

O O



# آرزو

دا سيمه به ښېرازه شي، دا کلي به ودان شي
پۀ مونږ به چرې هم د خوشحالو دور دوران شي

پۀ ژوند د ژوندانۀ پۀ آسانو پسې ړند ېږو
آسمان ته خلق اوختل مونږ ښکته راغورزېږو
چې قام پۀ بره بيايي پۀ هغه چارو شرمېږو
دا څنګ مسلمانان يو د يو بل پۀ لاس قتلېږو
د يو بله وېزار يو ځکه غېرو ته پرزېږو

چې داسې ځان ځاني وي مشکلات به څنګ آسان شي
پۀ مونږ به چرې هم د خوشحالو دور دوران شي

الله رانه ناراضه دے پۀ شاړو باندې سر يو
بېشکه نمونځ ګزار يو خو پۀ زړۀ باندې کافَر يو
نېتونه مو خراب دي د يو بل نه مرور يو
د غېر لاس کښې لوبېږو کۀ د لراوکۀ د بر يو
دا ځکه پۀ نړۍ کښې در پۀ در خاورې پۀ سر يو

www.pukhto.net

خبــر شــه ترقــۍ لــه اول شــرط امــن وامــان دے
تعلـيم ښـۀ پـۀ اخـلاص د كـامرانۍ بلنـد نشـان دے
انصاف چې يقيني شي بيا خو هر مشكل آسان دے
محنت چې څوک کوي هغه کامياب هغه کامران دے
هــر فــرد ددې اولــس د ترقــۍ مــردِ مېــدان دے

چې دا اوصاف پېدا شي سرخرو بـه مسلمان شي
پـۀ مـونږ بـه چـرې هـم د خوشـحالو دور دوران شـي

پـۀ مينـه،وروروليۍ بـه جـوړ لـۀ دې دنيـا جنـت شـي
د يــو زنځيــر كــړى كــۀ دا كلهــم انســانيت شــي
دروغ لـۀ مينځـه اوځي هر يو كار پـۀ صداقت شي
معيــار د ســړيتوب چــې اډانــه پــۀ شــرافت شــي
رخصـت چـې لـۀ دنيـا نـه د دروغـو سياسـت شـي

**ســراج** بـه مـړ د دغـه يـوې ورځـې پـۀ ارمـان شـي
پـۀ مـونږ بـه چـرې هـم د خوشـحالو دور دوران شـي

O O O



دلتــــه د غريــــب پوښــــتنه څــــوک كــــوي
حــق بــه پــۀ رشــوت او يــا پــۀ ســوال اخلــي

دا ســـــې مقتــــدره طبقــــه هــــم شــــته دے
څــوک چــې پــۀ ناحقــه پــردے مــال اخلــي

O O

دې ســـنګدله بنيـــادمو تـــه حېـــران شـــم
د ورور وينـــه تويـــوي پـــرواه يـــې نـــۀ وي

چـــې زمـــا نـــه پيالـــه ماتـــه شـــي خفـــه شـــم
خلـــق زړونـــه مـــاتوي پـــرواه يـــې نـــۀ وي

O O

www.pukhto.net

دا وطـــن بـــه جـــوړول غـــواړي ملګـــرو
کـــړې خلّـــې بـــه نېغـــول غـــواړي ملګـــرو

نـــور پـــهٔ بوســـو کښـــې آوبـــهٔ بوتلـــل ښـــهٔ نـــهٔ دي
دا اولـــس راپـــارول غـــواړي ملګـــرو

چـــې زمـــونږه د تـــن وينـــې څښـــل يـــې کـــار دے
داســـې خلـــق ســـمول غـــواړي ملګـــرو

د انصـــاف دور دوران راوســـتل غـــواړي
بـــې وســـې بـــه ختمـــؤل غـــواړي ملګـــرو



چـــې پـــهٔ هـــر قـــدم د خـــوارو استحصـــال کـــړي
دا دســـتور بـــه بـــدلول غـــواړي ملګـــرو

پـــهٔ تيـــارو کښـــې نـــور د ژونـــد ســـفر مشـــکل دے
رڼاګـــانې بلـــول غـــواړي ملګـــرو

پـــهٔ وهشـــت او تورتمونـــو کښـــې مـــو ژونـــد دے
تـــورې شـــپې ســـباکول غـــواړي ملګـــرو

د **ســـراج** پـــهٔ زړهٔ کښـــې دغـــه يـــو ارمـــان دے
پّښـــتانهٔ راوېښـــول غـــواړي ملګـــرو

O O O O

دلتـــه کښـــې کـــهٔ خانـــدو او کـــهٔ ژاړو خـــو مـــړهٔ کېـــږو بـــه
هلتـــه بـــه ژونـــدي يـــو کـــهٔ هـــر څـــو مـــرګ تـــه لېوالـــه يـــو

څـــهٔ چـــې د ازل پـــهٔ تختـــه ليـــک وي نـــو رارســـي بـــه
څـــومره ســـادګان يـــو تـــدبيرونو تـــه خوشـــحاله يـــو

O O

www.pukhto.net

O

دې کښې شک نشته چې ډېر راباندې ګران يې
قربـــاني دومــــره درَنـــه کــــولے نــــهٔ شـــم

کلــــه کلــــه بــــه دې خېــــر دے خبــــر اخلــــم
ډېــــره ګرمــــه يارانــــه کــــولے نــــهٔ شـــم

O O

ريښـــــتيا وېنـــــا رانــــه دنيــــا خفــــه کــــړه
هــــر څــــوک پــــهٔ مــــا پســــې ګيلــــې لــــه راځــــي

خلــــق د خلــــې خبــــره زړهٔ تــــه کــــوزئ
زمــــا د زړهٔ خبــــره خلــــې لــــه راځــــي

O O



## وطن

دا وطـن زمـا وطـن دے، سـر او مـال مـې پـرې قربـان دے
دا چــې څــهٔ راســره کېږي، ټــول عــالم ورتــه حېــران دے

چا پـهٔ نـوم د اسـلام لُـوټ کـړو، چـا پـهٔ ظلـم زور بربـاد کـړو
چـا د لـوږو سـره مـخ کـړو ،پـهٔ ژونـدوني يـې ناښـاد کـړو
چا بد نـام کـړو پـهٔ عـالم کښـې ،ترهـه ګر بانـدې يـې يـاد کـړو

څوک عېشونه کړي، مستي کړي ، څوک د پوزې آوېزان دے
دا چــې څــهٔ راســره کېـږي، ټــول عــالم ورتــه حېــران دے

څوک د بـل غوجـل کښـې اوسي ، د بنده ، بنده ګېري کړي
څوک د هاړ پهٔ سرو غرمو کښې ،ټُوک ډوډۍ له مزدوري کړي
څوک چې من او سلوىٰ اوخوري ، پهٔ جازونو کښې سورلي کړي

چــا بنګلــې آبــادې کــړي ، د چــا چهــت بــره آســمان دے
دا چــې څــهٔ راســره کېــږي، ټــول عــالم ورتــه حېــران دے

څوک د مال پهٔ زور افسر شي ،انجینر شي ډاکټر شي
څوک د ډېرې ناچارۍ نه ،د چا خان سره نوکر شي
څوک سرو سپینو کښې لوېږي ، څوک د کوره مسافر شي

دا د خدای د لوري نهٔ ده ،ذمه وار یې حکمران دے
دا چې څهٔ راسره کېږي، ټول عالم ورته حېران دے

پهٔ هر ځای کښې سفارش دے، د انصاف مرۍ خپه ده
رشوت ، ظلم پهٔ عروج دے ، د قانون تله کږه ده
د منزل لاره ازغنه ، ناهمواره ده ، اوږده ده

نوکریانې پهٔ پېسو دي ، د رشوت دور دوران دے
دا چې څهٔ راسره کېږي، ټول عالم ورته حېران دے

د اولس پهٔ وینو پایي ، کهٔ پولیس کهٔ پټواري دے
څوک چې ځان ته مشر وایي ، مشر نهٔ دے مداري دے
د زور ظلم انتها ده ، سفارش خو سرکاري دے

جنتونه د مّلا شول ، مال ،دولت،جاګیر د خان دے
دا چې څهٔ راسره کېږي، ټول عالم ورته حېران دے

O O O



O

دشتې دي کهٔ غرونه مړاوي مړاوي دي
هم زمونږ مخونه مړاوي مړاوي دي

لویه سوکړه تېره شوه پهٔ دې سیمه
سروې ، نخترونه مړاوي مړاوي دي
ستا راتلو خو دومره قدرې اوکړله
نن مې پرهرونه مړاوي مړاوي دي
دلته د بارودو کرونده دې اوشوې
بوټي او ګلونه مړاوي مړاوي دي
اوس کهٔ سپرلي راشي نو زمونږ پرې څهٔ
اوس زمونږ ستونه مړاوي مړاوي دي
اوکړه،بدنیتۍ راسره اوکړله
یو بل ته مو زړونه مړاوي مړاوي دي

چرته چې **سراجه** ژړاګانې دي
هلته اخترونه مړاوي مړاوي دي

O O O O

www.pukhto.net

زۀ د محبت د باغ ماليار يمه
بس خو يو د کرکې نه مې کرکه ده

تۀ مې يې د سترګو تور د زړۀ تکور
نوره خو د ښکلو دنيا ډکه ده

O O

زۀ د هغه چا صفت کړم چې سړے وي
چې سړے نۀ وي نو څنګ به ئې څوک ستايي

داسې خلق مې ليدلي دي سراجه
د غرض لپاره خر ته دادا وايي

O O



راوله انصاف اول ،امن به هله راځي
چرته چې انصاف نۀ وي ،هلته امن نۀ راځي

زور دې راته اوښودو ، کور دې رانه واغستو
وايه اوس وئيلې شې ، څۀ چې دې پۀ څُلۀ راځي
ځان باندې باور لرم ، طمع د چا نۀ کوؤم
هر څوک پۀ ځان شوے دے ، څوک د چا پۀ ښۀ راځي
دلته کښې مالدار خلق ، خوار غريب له چرته ځي
خوار درومې خوارانو له ، موړ کره مارۀ راځي
تاله چې راځم ګله ، ډېرې ګيلې راوړمه
ګونګ شمه، چاړا شمه ، ستا پۀ مخکښې څۀ راځي
پښې پۀ هغه لورې ځي ،چرته چې دې زړۀ غواړي
ځکه درله راشمه ، تا پسې مې زړۀ راځي

زۀ **سراج** خوشحاله شم ، ستا مينه پرې ماته کړم
کله چې زمونږ کره ، ستا د کور واړۀ راځي

O O O O

www.pukhto.net

روڼو دا نظام خونخوار دے
دا زمونږ پۀ اوږو بار دے

حرام خور پکښې څربيږي
چې حلال خوري هغه خوار دے
ټول زمونږ پۀ وينو پايي
جاګيردار دے کۀ زردار دے
وطن خوري ولې بيا هم
هر څوک تښتې ته تيار دے
د ګناه پيمانه دا ده
چې کمزورے ګنهګار دے
دا لا څۀ رنګې وطن دے
سل بېکاره يو پۀ کار دے

تل به سپينې سپينې وايي
د **سراج** دغه روزګار دے

o o o o



روِيّو د بغاوت په لاره بوتلو
حسد، کرکې د نفرت په لاره بوتلو

مونږه مينه وؤ او مينې له پيدا وؤ
چاپېرچل د عداوت په لاره بوتلو

څو ناپوهو د پوهانو په جامه کښې
مونږ د لوږې، هلاکت په لاره بوتلو

ننګ غيرت مو شو د خاورو سره خورې
بې حسۍ د ذلالت پۀ لاره بوتلو

د سيلانو سره سيال به شو څو هله
که چاروا کو د حکمت په لاره بوتلو

سربالا به شو **سراجه** په جهان کښې
خان، مُلا که د وحدت په لاره بوتلو

o o o o

www.pukhto.net

ژوند په ژوندانه ستومانه کړے يم
چاته فرياد اوکړم، چاته اوژاړم

څوک چې د اغيارو نه خيرات غواړي
زۀ د داسې خلقو نه څۀ اوغواړم

O O

ژوند مې تول په خپله رضا اويستو
هر ممکن ارمان مې پوره کړے دے

زۀ ژوندون په خپلو اوږو نۀ وړمه
ځان مې د ژوندون په اوږو وړے دے

O O

**نوټ:-** پۀ اولنۍ قطعه کښې مې د ځپلي اولس خبره کړې ده او پۀ بله کښې خپله.



زړۀ له بې لۀ ياره قرار نۀ راځي
تنګ شمه له ژونده چې يار نۀ راځي

ورانه د ساقي دا مېخانه ښه ده
مونږ له پکښې هسې هم وار نۀ راځي

څنګه يې د مينې لاس په سر شمه
ماله بې ددې نه څۀ کار نۀ راځي

خدائے په داسې سيمه ميشته کړي يو
کال و سر خزان وي بهار نۀ راځي

داسې چاپېر چل کښې ايسار شوے يم
اوس راله د تېښتې څه لار نۀ راځي

ستا د شرابي نظر په يو کتو
څنګه به **سراج** له خُمار نۀ راځي

O O O O

www.pukhto.net

زړهٔ مې لهٔ سینې نه راواتهٔ کوي
یار راته خوارهٔ خوارهٔ کاتهٔ کوي

زلفې ئې چیچل کړي د مارانو شان
سترګې ئې پهٔ زړهٔ باندې ویشتهٔ کوي

مونږه د ذلّت کوهي ته ولوېدو
خلق آسمانونو ته خاتهٔ کوي

یه ملګرو نن به مې جانان راځي
زړهٔ مې پهٔ هوا کښې الواتهٔ کوي

بیا **سراج** غمونو ایسار کړے دے
غم د مېخانې پهٔ پرېواته کوي

O O O O



زمونږ پهٔ سیمه د نفرت فصلونه اوټوکېدل
پهٔ مَره خاوره د غربت سَرونه اوټوکېدل

د لوږو تندو ،خَطرو سَره چې مخ شو کله
نو پهٔ څېرو مو د وهشت رنګونه اوټوکېدل

پکښې مدام چې به ګلونه د الفت ټوکېدل
هغه وطن کښې پهٔ هر خوا اورونه اوټوکېدل

چا ظالمانو د هغه مرغو وزَرې پرې کړې
چې پهٔ وجود یې د الوت څانګونه اوټوکېدل

د محبت پهٔ تالاباغ به پسرلي خوارهٔ شي
که چرې بیا د امنیت تُخمونه اوټوکېدل

د زړهٔ دُنیا به د **سراج** د رنګینو ډکه شي
که خزان تېر شو د اُلفت ګلونه اوټوکېدل

O O O O

www.pukhto.net

سـپين وېښـته د برېتـو نـه اوباسـمه
غـم د خوشـحالو نـه را اوباسـمه

نـوې ورځ نمـانځم نـوو جزبـو سـره
کلـه چـې سـحر د خوبـه پاسـمه

O O

سـتا د وصـال طمعـه مـې ژونـدے سـاتي
مـۀ راځـه خـو يـاره "نـا" بـه نـۀ وايـې

مـرګ مـې هـم قبـول دے سـتا پـۀ غېـږه کښې
ژونـد بغېـر لتانـه "دا" بـه نـۀ وايـې

O O



زه چـې د اُلفـت اُور اورکے شـومه
پوهـه شـوم ايلـه د کـار سـړے شـومه

دا خبـرې بـې اجلـه نـه کېـدې
مـړ چـې شـومه هلـه را ژونـدے شـومه
مينـه کښـې جنـون تـه رسـېدۀ غـواړې
ښـه شـوه چـې د غرونـو لېـونے شـومه
سـتا د نظرمـاتي صـدقه شـومه
تاتـه نظـر پاڼـه شـوم لـوګے شـومه
چـا د خپـل پتـکـي او اوربـل ګـل کړمـه
چاتـه پـه چشمانو کښـې ازغے شـومه
يـار چـې مـې لوظونـه د راتلـو اوکـړل
زۀ ورتـه د اوس نـه پسـرلے شـومه

زۀ **سـراج** چـې سـتا پـه مـخ مئـين شـومه
سـړيکه شـومه، درد شـوم، اسـوېلے شـومه

O O O O

www.pukhto.net

○

زهٔ پـهٔ بـوډا تـن کښې زړګے ځوان لـرم
ځـوانې حوصلې لرمـه تـوان لـرم

مينـه خورَومه، مينـه غواړمـه
مينه مې مـذهب دے پـرې ايمـان لـرم
څنګ بـه د پښتو کارونـه نـهٔ کـووم
پـت لـرم، پښتو لـرم ،يـاران لـرم
کلـه پښتـانهٔ بـه ورونـه ورونـه شـي
زړهٔ بانـدې بـس دغـه يـو ارمـان لـرم
زهٔ پـهٔ دې شـته منـه جنتـي خـاوره
څـومره بـد نصـيبه دوزخيـان لـرم
خلـق د ګلونـو کرونـدې کـوي
زهٔ د کـور پـهٔ مخـه کښې ډېـران لـرم
خـود بـه مـې ژونـدون وي د ازغـو سـره
ځکـه چې د ګـل غونـدې جانـان لـرم

خېـر کـهٔ **سـراج** سـتونزو سـره مـخ يمـه
خيـال کښې د رنګونـو يـو جهـان لـرم

O O O O



○

ژونـد پـهٔ زور دے يـا پـهٔ چـل دے
مـرګ د هـرې سـتونزې حـل دے

خدايـه کـوم طـرف تـه لاړ شـم
هـره سـيمه کښې غوبـل دے

اوسـېدل دلتـه نـور ګـران دي
کـهٔ ارزان دے نـو اجـل دے

دواړه يـو وطـن کښې اوسـو
زهٔ غريـب يـم سـتا محـل دے

يـو د بـل پـهٔ وينـو پـايي
وطـن نـهٔ دے خـو ځنګـل دے

پـهٔ هـر حـال کښې مطمئـين دے
د **سـراج** پـهٔ خـدا ے توکـل دے

O O O O

www.pukhto.net

ستا د وصال ګهړې د خوب ليدل وو
د هجر شپې ورځې اوږدې تېرې شوې

ما د ژوندون لۀ شمېره اوويستلې
چې بې لتا کومې مودې تېرې شوې

O O

سکون د زړۀ ، راحت او اطمينان کۀ دې پکار وي
منزل ته همېشه پۀ نېغه لاره باندې ځه

مرام ته به رسېږې کۀ توکل دې پۀ الله وي
تادې ضروري نۀ ده ، پۀ قلاره باندې ځه

O O



ژوندون څۀ دے، خو يو خوب دے
ځواني وخت، د لېونتوب دے

نن ځلمے، سبا بوډا وي
د غريب، څۀ ځلميتوب دے
مال دولت د لاسو خيرے
اصل شے خو، سرېتوب دے
پۀ تمامه زندګۍ کښې
ښکلے وخت د ماشوم توب دے
انتقام باتوري نۀ ده
پۀ بخښنه کښې نر توب دے
زلفې سپورې، شونډې اوچې
د غربت څۀ پېغلتوب دے

د وفا طمعه لۀ ښکلو
د **سراج** کم عقل توب دے

O O O O

www.pukhto.net

ژوندون څه دے څو لوېدهٔ او پاڅېدهٔ دي
مرګے ښهٔ دے لهٔ غمونو خلاصېدهٔ دي

ستا پهٔ برخه خنداګانې رسېدلې
پهٔ نصيب زما د عمر ژړېدهٔ دي

مونږه هسې هر سبا ته خوشحاليږو
پهٔ سبا سبا مو عمر کمېدهٔ دي

کهٔ هر څومره ترقۍ طرف ته لاړ شو
عاقبت مو د کمره غورځېدهٔ دي

پرون راغلو، نن دلې، سبا له تګ دے
دا يو څو ورځې ژوندون د خوب ليدهٔ دي

اے **سراجه** پهٔ بې حسه چاپېرچل کښې
د نېکۍ کول ړندو ته ګډېدهٔ دي

O O O O



سپوږمۍ د څوارلسمې پهٔ اسمان کښې ځلېده
ډيوه ستا د يادونو مې پهٔ زړهٔ کښې بلېده

ما وئيل چې ډېر به اوښنمه ستا غم به رانه هېر شي
د مينې تنده کله پهٔ شرابو کمېده
اوتر اوتر يې اوکتل چې خواته مې نزدې شوه
پهٔ خُلهٔ باندې ګونګۍ شوه پهٔ ګرمۍ کښې رپېده
هغه منظر مې اوس سترګو ته مخکښې مخکښې کېږي
ولاړه چې پهٔ ورهٔ کښې وه پهٔ هټکو ژړېده
د سترګو پهٔ ککو کښې ئې د مينې انتها وه
د ځان پرواه يې نهٔ کړه خو پهٔ ما خفه کېده
خفه شوه، پهٔ ژړا شوه چې رخصت يې رانه اغيست
رڼا پهٔ خورېدو وه تيارهٔ ورو ورو کمېده

**سراجه** چې د نهٔ راتلو بانه ئې جوړوله
خبره يې پهٔ خُلهٔ کښې ورانېده او سمېده

O O O O

www.pukhto.net

شپېتهٔ کاله ژوند وړه خبره نهٔ ده
چې مې تېر کړو د لېوانو په ځنګل کښې

معجزه ده نهٔ لا مړ نهٔ لېونے شوم
څوک به اُووسي په داسې چاپېرچل کښې

O O

فضیلت په علمیت موندلے کیږي
چې محنت کوي هغه خلق درانهٔ شي

کهٔ د علم په انوارو منَور شوَل
پښتانهٔ به حقیقت کښې پښتانهٔ شي

O O



ستا به هېر یم خو زما کله هېرېږې
چې دې څومره هېره ومه رایادېږې

دومره لږ ساعت له مهٔ راځه لالیه
په منت باندې چې بیا نهٔ ایسارېږې

په رڼا کښې خو په څهٔ نه څهٔ مشغول یم
چې تیارهٔ شي په زړګي مې راورېږې

ښهٔ خبر یې چې دې نهٔ راځي تپوس له
د زړهٔ درده تهٔ وس هم نهٔ قلارېږې

چې مدام یې ازار کړے یې **سراجه**
تهٔ بیا هم د هغه خلکو نه زارېږې

O O O O

www.pukhto.net

ستا پۀ چنار چنار ځوانۍ باندې غزل وليکم
کۀ نه پۀ خپله بې وسۍ باندې غزل وليکم

چې د زردارو پۀ عېشونو قلم پورته کړمه
کۀ بې وسه زندګۍ باندې غزل وليکم

زۀ د بې سره چاپېرچل غمونه اوژاړمه
کۀ د خودسرو پۀ مستۍ باندې غزل وليکم

د قام بې ثوکه او بې وسه اولس وستايمه
کۀ د رهبر پۀ رهزنۍ باندې غزل وليکم

**سراج** د خپل ريخي ريخې ګرېوان غندنه اوکړم
کۀ د غاصب پۀ خود سرۍ باندې غزل وليکم

O O O O



ستا حسن مغرور پۀ سر اغستے يم
خپل زړګي مجبور پۀ سر اغستے يم

خپل احساس د لادو بادو پرېستمه
عقل او شعور پۀ سر اغستے يم
ګورے! چې د کوم جرم سزا مومي
فکر د مزدور پۀ سر اغستے يم
پوهه شوم د خپلو نه پردي ښۀ وي
حسد د تربور پۀ سر اغستے يم
يا يې سمول دي يا ترې تېښته ده
دې پاستر دستور پۀ سر اغستے يم
هر خواته اورونه دي، دردونه دي
دغه بل تنور پۀ سر اغستے يم

زۀ **سراج** چې زېړه ګونه ګرځمه
دا سماج رنځور پۀ سر اغستے يم

O O O O

www.pukhto.net

ستا د خمارو سترګو تاب نه لرم
د اداګانو دې جواب نه لرم

د ګناه پېټي په اوږو ګرځوم
د ملاجان هومره ثواب نه لرم
زه د زاهد مقام ته چرته رسم
پاس په تندي باندې محراب نه لرم
چا پېره ګورمه همخيال لټوم
خلق بلها دے انتخاب نه لرم
په غټو خلقو پېښه نه کومه
زه د هغه محفل آداب نه لرم
مينه، اخلاص او ساګ شوملې ډېرې دي
چرګ، پلاوونه او کباب نه لرم

خود به **سراج** يمه دلګير درپسې
چې دې د مست نظر شراب نه لرم

O O O O



ښه شوه چې تباه دې کړمه ، نه قلارېدې
خلقو د خندا دې کړمه ، نه قلارېدې

دغه دې غوښته کنه چې ستا په تور تورن شمه
اوشوله رسوا دې کړمه ، نه قلارېدې
لاړم سودايي شومه په اوتو بوتو سر شوم
ځان سره لګيا دې کړمه ، نه قلارېدې
ښه مې درته ويلي وو چې اُور کښې ګوتې مه وهه
اُودې سوم، جليا دې کړمه ، نه قلارېدې
تلم له هرې ستونزې بې پرواه د خپل منزل په لور
وخته په ژړا دې کړمه ، نه قلارېدې
خپل مې ستا په سر باندې پردي کړل ، ته مې خپل نه شوې
ورک دې کړم ،تنها دې کړمه ، نه قلارېدې

ما **سراج** خو ستا هر يو ستم په زړه منلے وو
ستړے شوم ،ګويا دې کړمه ، نه قلارېدې

O O O O

www.pukhto.net

O

کوم يو عمل دے چې صله ئې نۀ وي
محنت او زيار په غرۀ کښې لار جوړوي

کرکه سبب د تباهۍ جوړيږي
مينه په کاڼي زړۀ کښې لار جوړوي

O O

کله کله ستا غمونه دومره ډېر شي
د مچو غوندې مې ذهن نه چاپېر شي

خدايه دا مهرباني راسره اوکړه
چې تراخۀ تراخۀ يادونه رانه هېر شي

O O



O

صبر به کوۀم د ستمونو په بدل کښې
بله لاره نشته د ظلمونو په بدل کښې

زۀ د ځنې خلقو ساده والي ته حېران شمه
مينه رانه غواړي نفرتونو په بدل کښې
دا متل غلط دے " چې څۀ کرې هغه ربېې به "
غنې په لاس راغلې د ګلونو په بدل کښې
بيا به د دروغو په وعدو باندې تېر نۀ اوځم
شپه مې شوګيره شوه د لوظونو په بدل کښې
زۀ چې د کوم ښکلي مخ د مخه شاعري کووم
څۀ يې راله راکړل د شعرونو په بدل کښې
حسد ،دروغ، کرکه،دُشمنۍ کښې ثاني نۀ لرو
غواړو جنتونه د مونځونو په بدل کښې

خُلۀ د **سراج** هغه وخت کښې ټوله ګوړه ګوړه شي
ستا نامه چې اخلي د دردونو په بدل کښې

O O O O

www.pukhto.net

O

کله چې مې ستا بشر ليدلے دے
غشے مې د زړۀ پۀ سر خوړلے دے

ما سره ملګرے وی چې چرته ځم
غم دې پۀ ما دومره نازولے دے

خلقه پۀ ايمان ئې راته اووايې
ماته ښکلے ښکاری، کۀ نه ښکلے دے

بيا رابانډې هتکې لګېدلی دی
بيا مې پۀ زړګی راوربېدلے دے

زۀ يواځې نۀ ژاړم پۀ يار پسې
اور د دواړو غاړو لګېدلے دے

ستا **سراج** پۀ تا پسې ثابته شپه
سم پۀ هتکو هتکو ژړېدلے دے

O O O O



O

کۀ ژاړم خو تهمت مې ژړېدو ته نۀ پرېدي
دا ستا يادونه ما اُودۀ کېدو ته نۀ پرېدي

چې کله خوبولے شم خوبونو کښې مې راشې
بيا دغه تسلسل مې ويخېدو ته نۀ پرېدي

پۀ برخه مې غمونه دي، دردونه دي او زۀ يم
قسمت مې ارمانونه ريژېدو ته نۀ پرېدي

انا مجبوره کړے يم درتلے شم، نۀ صبرېږم
پُښتو مې ستا کوڅه کښې اودرېدو ته نۀ پرېدي

د رسم نه باغي شمه کۀ مينه ګَول پرېږدم
بندونه د سماج مې ستا ليدو ته نۀ پرېدي

**سراج** پۀ دې ويرجن ماحول کښې خنګه پۀ خندا شي
غمونه ورله سترګې وچېدو ته نۀ پرېدي

O O O O

www.pukhto.net

کوشش تـه حاجت نشته تـولې چارې د تقـدیر دي
څوک هسې سرخرو شي څوک ذلیله شي رسوا شي

څوک ګرځي پهٔ منزل پسې د پښو نه پسې خلاص شي
پهٔ چا پسې منزل د کور د غـولي پورې راشي

O O

کهٔ هر څومره د حالاتو سترګې سرې دي
رابخلې الله لـوړې حوصلې دي
پهٔ ازغنو لارو تلل کهٔ ډېر مشکل دي
پهٔ پښو کړې مې د وسپنو پڼې دي

O O



کوم زړګې چې د غمونو ادېره شي
ارمانونه پکښې اوسوزي ایره شي

چې د مینې پهٔ مکتب کښې سبق وایي
ټوله شپه یې تر سحره شوګیره شي
د رهبر ګومان پرې مهٔ کوئ ملګرو
چې بنګلې، جاګیر، موټرې ورسره شي
دا وطن به چرته هم ګل و ګلزار شي؟
یقین نهٔ دے کهٔ مې دا ارمان پوره شي
چې را نهٔ شي اندېښنې مې پهٔ سر واخلي
ساه مې ډوب شي زړه مې ډېر پهٔ تراره شي
ډوبېدل یې پهٔ سېلاب کښې یقیني وي
چې استوګنه یې د سین پهٔ کناره شي

کهٔ **سراج** لهٔ خپله ذاته بې پرواه شو
د مخلوق د زړهٔ پهٔ کور کښې به دېره شي

O O O O

www.pukhto.net

## علم او عمل

کوم قومونه چې پۀ علم منّور شي
پۀ جهان باندې ښکاره لکه د نمر شي

چې د جهل چاپېرچل کښې پېدا لويي شي
نۀ د ځان شي نۀ د قام پۀ غم خبر شي
آزادي ګټل خراج د وينې غواړي
آزادي ساتل پۀ علم او هنر شي
وروري، مينه، اتفاق کۀ پکښې راغلل
مسلمان به پۀ عالم کښې معتبر شي
د هغه وطن پۀ حال ژړل پکار دي
چې سالار يې مير صادق او مير جعفر شي
کۀ مو يو ځلې نظام وطن له ورکړو
انتظام به ئې پخپله برابر شي

د محنت شعار کۀ خپل کړو نو **سراجه**
پۀ وطن به شپه شوقدر ورځ اختر شي

O O O



## جنت

کۀ د زمکې ملکيت د مملکت شي
د اولس د ستونزو حل پۀ حکومت شي

چې سرکار د مور او پلار کردار ادا کړي
رعايا يې د اولاد پۀ حيثيت شي

چې دنيا ټوله د يو کالۀ کورمه شي
خوشحالۍ به پۀ کلهم انسانيت شي

اقامې، پاسپورټ، وېزې پۀ اور ستې شي
څوک چې چرته ځي د تللو اجازت شي

محرومۍ او بېوسۍ به پکښې نۀ وي
د صحت، تعليم، روزګار کۀ ضمانت شي

پۀ هر خواه به مينه مينه شي **سراجه**
دا دنيا به پۀ ژوندونې يو جنت شي

O O O

www.pukhto.net

کۀ وینښ یم کۀ اودۀ یم پۀ فکرونو کښې مې تۀ یې
زما د سترګو توره پۀ هر حال کښې راسره یې

ستا نوم مې د زړګي پۀ تخته داسې پوخ لیکلے
کۀ ناست راسره نۀ یې خو پۀ خیال کښې راسره یې

O O

لمحې د ژوندانه یې پۀ ازغو باندې تیرېږي
د خوارو ورځې شپې پۀ سرو لمبو باندې تیرېږي

د چا چې د وطن پۀ ښائیستونو کښې کردار دے
دا ټولې سختې پختې پۀ هغو باندې تیرېږي

O O



کۀ د لر او کۀ د بر دي پښتانۀ
ټول پۀ خپلو کښې پۀ شر دي پښتانۀ

د دشمن د پاره ورور پۀ ټوپک ولي
څومره پوهه څومره نر دي پښتانۀ
پۀ ډوډۍ پسې د سېلمې مسافر دي
پۀ شتۀ کور کښې در پۀ در دي پښتانۀ
د وطن پۀ ننګ ولاړ دي لکه غرونه
خبر کۀ ناست پکښې نهر دي پښتانۀ
د تورسرو یو حق نۀ منې د سره
انکاري ترې سراسر دي پښتانۀ
د رائیونډ خائیست د دوې پۀ سر قائم دے
د اسلام پۀ روح خبر دي پښتانۀ

**سراج** سوال کړي د زړۀ سترګې ئې بینا کړې
خدایه نور خو برابر دي پښتانۀ

O O O O

www.pukhto.net

O

کۀ هر څو مې نصيب کم دے زما خوښ دے
ستا لۀ لوري دے کۀ غم دے زما خوښ دے

کۀ هر څو پکښې پۀ ما کانې وريږي
ولې بيا هم د يار چم دے زما خوښ دے

د زړۀ سود مې پۀ دې لارو کوڅو کيږي
دا مې کلے د صنم دے زما خوښ دے

د وطن کۀ مې سيندونه دي کۀ غرونه
اباسين دے کۀ ايلم دے زما خوښ دے

هر انداز يې د **سراج** زړۀ له تکور دے
کۀ يې قهر کۀ ستم دے زما خوښ دے

O O O O



O

ګورے چې تر څو پۀ ځيګرخون کووم
هسې پۀ توکل باندې ژوندون کووم

هغسې د خټو کور کښې اوسمه
هغسې پۀ تنګو لارو يون کووم

دا دنيا بۀ وي او زۀ بۀ نۀ يمه
څۀ لۀ پکښې چارې د قارون کووم

ما لۀ چې زما حقونه را نۀ کړي
بيا خو بۀ غندنه د قانون کووم

نن راته د ښار قاضي غصه ښکاري
ځکه چې خبره د بدلون کووم

ما باندې نافذ دے د ځنګل قانون
ژوند به دلته څنګه د سکون کووم

ستا په ځنګل خوب مې تصور کښې وي
زۀ چې شوګیرې په خپل زنګون کووم

څنګه به **سراج** منزل ته اورسم
لا خو په تیارو کښې مېړتون کووم

O O OO

## یو شعر

زۀ د خپلې برخې غم ته وار خطا ووم
ځان مې خوار کړو پردے غم مې په سر واغیست

O O



O

لاړه ابۍ مړه شو تبه یې اوشلېده
څوک دي چې پښتون له به شمله ګټي
اوس د پښتونوالي دور تلے دے
خلق د پښتو په نوم پیسه ګټي

O O

لوېړمه پاخېړمه په هلو ځلو ستړے شوم
ښکارې چې منزل ته په هیڅ حال د رسېدو نۀ یم

زمکې زما مور شه ما په غېږه کښې را ونغاړه
نور ددې مکارې دنیاګۍ سره د تلو نۀ یم

O O

www.pukhto.net

O

لهٔ ستونزو نه وېرېږه مهٔ، مېدان ته مخامخ شه
سېلۍ له لاره اونیسه طوفان ته مخامخ شه

قومونو د تدبیر په زور بدل کړل تقدیرونه
را اوځه د کوټې نه شین آسمان ته مخامخ شه
کهٔ غواړې سر لوړي او ښېرازي لکه د فصل
سختۍ د موسم اوزغمه باران ته مخامخ شه
ژوندون خو د لوېدو او پاسېدو نه عبارت دے
بېدار اوسه، چمتو شه، امتحان ته مخامخ شه
سر مات کړه، سنګر واخله چې صبا دې منور شي
کهٔ ګټه کول غواړې نو تاوان ته مخامخ شه
پهٔ اوښکو تویولو به او نهٔ رسې منزل ته
افسوس پهٔ لته اوو هه ارمان ته مخامخ شه

**سراجه** د ګونګټ غوندې پهٔ سوټو پسې مهٔ ځه
بلبل د ځانه جوړ کړه، ګلستان ته مخامخ شه

O O O O



O

لېوني د لېونیانو سره ګرځي
چې چرسي وي د چرسیانو سره ګرځي

ښهٔ یاران وي چې پهٔ خویې خصلت ثاني وي
حرامي د حرامیانو سره ګرځي

هغه څوک چې پهٔ حلوا باندې مئین وي
خامخا به د ملیانو سره ګرځي

شک شبه یې پهٔ کردار باندې اونهٔ کړې
کوم سړے چې د نېکانو سره ګرځي

چې د ژوند د هلو ځلو نه پهٔ شا شي
بستر واخلي تبلیغیانو سره ګرځي

ناز پرې مهٔ کوه **سراجه** یار دې نهٔ دے
څوک چې ستا د بدخواهانو سره ګرځي

O O O O

www.pukhto.net

ما او زړهٔ مې خپلو کښې جرګه اوکړه
ستا د یارانې نهٔ مې توبه اوکړه

بیا به چرته ستا پهٔ لوري در نهٔ شم
ځان سره مې کلکه فېصله اوکړه
مرګ نه پس به خامخا جنت ته ځم
پاک شوم پهٔ دوزخ کښې مې میشته اوکړه
نن زما دشمن زما د دوست کره
نوې خپلولي نوې رشته اوکړه
تهٔ د بې غمۍ پهٔ خوب اودهٔ اوسه
ما خو تر سحره شوګیره اوکړه
نن ئې بیا یادونو لېونے کړمه
بیا مې د زوقم پهٔ غنو شپهٔ اوکړه

دا د هجر شپه به آخر تېره شي
لږه خو **سراجه** حوصله اوکړه

O O O O



مونږه چې پښپله باندې غلا کړو
بیا به احتساب ځنګه د بل اوکړو

ځومره نصیحت چې کړو نورو ته
سم به شو کهٔ خپله پرې عمل اوکړو

O O

مینې دې پهٔ زړهٔ باندې پرهر کړمه
لاړمه د زړهٔ د زوره اووتم

تهٔ مې چې د زړهٔ پهٔ کور دننه شوې
زهٔ د خپل زړګي د کوره اووتم

O O

www.pukhto.net

مجبور یم د هر چا سره اُولفت کؤلے نهٔ شم
د کرکې پهٔ بدل کښې محبت کؤلے نهٔ شم

پوهېږمه خونخوار دے د اولس پهٔ اوږو بار دے
بیا هم ددې نظامه بغاوت کؤلے نهٔ شم
دولت مې ضرورت دے خو حصول یې پهٔ سپي توب دے
خوار بهٔ یم خو د سپي غوندې عادت کؤلے نهٔ شم
د ځنو پهٔ مخونو مې توکلو ته زړهٔ اوشي
خو څهٔ اوکړم پهٔ ډاګه ترې نفرت کؤلے نهٔ شم
هر خواه د چالاکۍ، مکر و فرېب ګرم بازار دے
پهٔ داسې چاپېرچل کښې صداقت کؤلے نهٔ شم
الله رحمان رحیم یې خو زهٔ دومره شرمنده یم
دُعا درنه والله د مغفرت کؤلے نهٔ شم

خفه شمه **سراجه** خودکشۍ ته مې زړهٔ اوشي
کافر به شم بې وخته خو رحلت کؤلے نهٔ شم

O O O O



## د ژوندون حېثیت

مختصر ماذیګر دے ژوندون
یو لنډے شان سفر دے ژوندون

پهٔ هنر او احتیاط پکښې ګرځه
بس یو زوړند کمر دے ژوندون

څوک یې تېر کړي پهٔ عېش او مزو کښې
پهٔ چا دروند لکه غر دے ژوندون

ډېر لاهو شول او ډېر به لاهو کړي
بې پایان سمندر دے ژوندون

پهٔ چا تېر شي ترې لاړ ارماني شي
چا له نوے سحر دے ژوندون

www.pukhto.net

څوک رسوا کړي او څوک سربالا کړي
لۀ اختياره بهر دے ژوندون

چې شي تېر د مخلوق په ښېګړه
بيا خو لال وګوهر دے ژوندون

اے **سراجه** سبا له به ګورو
نن خو ډېر برابر دے ژوندون

O O O

ساده باده خبره ده آسانه فارموله ده
هر چا ته درانۀ ګوره کۀ خپل ځان درَنول غواړې

O



O

نخښې د اخلاص ، مينې ، يو والي وې
لاړې هغه لوړې حجرې رنګې شوې

پلن پلن سړکونه دي ، موټرې دي
زړونو کښې دننه کوڅې تنګې شوې

O O

نن خوشحاله يم چې روغ يمه ژوندے يم
پرون تېر شو د صبا پۀ طمع نۀ يم

پۀ خپل رب مې بهروسه او اعتماد دے
پۀ بنديانو کښې د چا پۀ طمع نۀ يم

O O

www.pukhto.net

مخ ته پۀ کتو چې د جانان شمه
یا الله قدرت ته دې حېران شمه

تۀ کۀ راته یو ځلې را اوګورې
زۀ به درنه سل ځله قربان شمه
تاته د هجران د سختو څۀ پته
عقل مې ګنګس شي پۀ لړزان شمه
ډېر پۀ مینه مینه راته مۀ ګوره
هسې نۀ چې تا باندې تاوان شمه
ستا د ښکلي مخ نه اثر اخلمه
لیکمه شعرونه غزل خوان شمه
ما بوځي تیارو ته ځان رڼا پله
خنګ د داسې مشر قدردان شمه

کله چې د هر چا شم **سراج** شمه
کله چې د ځان شمه پۀ ځان شمه

O O O O



مرګ لا نۀ راځي او ژوند راپورې اور شو
د دنیا د رنګینو نه مې زړۀ تور شو

ټولې چارې رانه پاتې د دنیا شوې
یو ستا غم مې پۀ اعصابو باندې سور شو
دې حالاتو رانه یو دوه خطا کړې
لېونے شوم عقل فکر مې شمکور شو
دا لا څنګه ورورولي ده پوهه نۀ یم
د ورور وینې څښي چې دا لا څنګه ورور شو
د وحدت، مینې، اخلاص وختونه لاړل
د حسد، کرکې، وهشت فصل سمسور شو
د هر چا برخه تقدیر جدا جدا کړه
څوک د کوره مسافر شو څوک پۀ کور شو

د هغه سماج نه اوتښته **سراجه**
چې ژوندون پکښې پۀ چل شو یا پۀ زور شو

O O O O

www.pukhto.net

O

نـــن بربـــاد دے د پـــرون ســـندرې وايـــي
ټـــول عـــالم ورتـــه ولاړ پـــهٔ تماشـــه دے

ګـــورے کلـــه بـــه پـــهٔ ځـــان بانـــدې پـــوهيږي
پښـــتون نـــهٔ خـــوزي اودهٔ دے يـــا نشـــه دے

O O

نـــن خوندونـــه اخلـــم د صـــبا غمونـــه نـــهٔ کـــوؤم
پوهـــه يـــم ســـبا د نـــن نـــه، نـــهٔ شـــي ښـــهٔ کېـــدلے

يـــا دي پرونـــي يادونـــه يـــا ننـــنـــي ورځ ده
ګـــورو بـــه ســـبا لـــه ســـبا کلـــه چـــا ليـــدلے

O O



# سلام

مـزدوره سـتا همـت سـتا ولولـو تـه مې سـلام دے
ستا عزم،ستا عظمت او حوصلو تـه مې سلام دے

وطـن پـهٔ تـا آبـاد دے،د وطـن سـوکالي تـهٔ يـې
الله دې اجـر درکـړي سـتا خولـو تـه مـې سـلام دے

قسـمت نـه مروريـې ،د نظـام نـه ګيلـه منـد يـې
زيـاتے درسره کيږي،سـتا ګيلـو تـه مـې سـلام دے

مـــنم چـــې ارمانونـــه،آرزوګانې دې پـــهٔ زړهٔ دي
پـهٔ شنډې آرمـانونو کښې جذبو تـه مـې سـلام دے

غلې،مېـوې پېـدا کـړې د زردار بچـي مـاړهٔ شـي
سـتا وږو ،لـوڅ لغړ،بربنډ بچـو تـه مـې سـلام دے

**سـراجه** چـې دا ټـول دوزخـي خلـق جنتيـان کـړي
کهٔ داسې څوک پېدا شي نو هغو تـه مې سلام دے

O O O

www.pukhto.net

# روژه

مونږ منو چې روژه اهم عبادت دے
پۀ اسلام کښې ددې ډېر لويې اهميت دے

دا پۀ کال کښې يوه مياشت د مغفرت ده
رب ورکړے ورلـه دومره فضيلت دے

هر ماښام يې د اختر پۀ شان ښائيسته وي
پېشمنے ئې د شو قدر علامت دے

د اسلام د ودانۍ اهمه ستن ده
اډانه پرې د دين ښکلے عمارت دے

خو مونږ تولـه ورځې اوږي تږي اوسو
مونږ هېر کړے ددې اصل حقيقت دے

دا سبق دے د نادار سره د مرستې
نور د رب زمونږ روژو ته څۀ حاجت دے



چې رشوت پکښې څوک اخلي روژه نيسي
دې بد بخت ته د روژې څۀ ضرورت دے

بيمارۍ او پۀ سفر کښې رب معاف کړه
دا د خدائے پۀ مونږه څومره عنايت دے

چې د وږو د تکليف احساس پېدا شي
پۀ روژه کښې د الله دغه حکمت دے

زړۀ سواندي، صبر، برداشت چې پکښې نۀ وي
بيا روژې ته د الله څۀ ضرورت دے

د روژې نه پس به هم راست بازه اوسې
د روژې د روح خو دا غرض وغايت دے

چې پۀ کُل اعضاء قابو ساتلے نۀ شې
روژه نۀ ده بيا خو هسې يو عادت دے

ربه ما **سراج** پۀ هغه دين کاربند کړې
چې نبي ئې عالمينو لـه رحمت دے

O O O

نور څۀ نۀ غواړو بس امن ترېنه غواړو
خُلې مو سترې شوې سرکار ته پۀ سوالونو

پخوا امن وو، ټالونه وو، مېلې وې
اوس هم زانګو خو د فکر پۀ ټالونو

O O

نور قومونه راشي پۀ دنيا کښې خوشحالۍ اوکړي
کلۀ چې يې د ژوند اُوربشه ختمه شي برزخ ته ځي
راشه د پښتون دې اپوته نصيب ته اوګوره
څنګه چې پېدا شي د راتلو سره دوزخ ته ځي

O O



مونږه پۀ هاغه خلقو عمر له باور کړے دے
چا چې زمونږه وينو څښلو له اشر کړے دے

زۀ د مُلا نه ګيله مند يمه پۀ دې خبره
اظهار د کرکې يې د مينې پۀ منبر کړے دے
ناصحه نور مو د تقدير پۀ کرښو مۀ غولوه
د خوار وګړي استحصال خو زورور کړے دے
زۀ د رهزن د رهزنۍ غندنه څنګه اوکړم
د رهزنۍ عمل زمونږ سره رهبر کړے دے
زرداره تۀ د بې وسۍ پۀ معنیٰ څۀ پوهېږې
يتيم د اوښکو، اسوېلو سره اختر کړے دے
اغياره داسې پۀ آسانه به يې څنګه اخلې
پۀ خپله خاوره مو د وينو اوبه خور کړے دے

د مزل سختې مو **سراجه** يرولے نۀ شي
مونږ پۀ ازغنو لارو ټول عمر سفر کړے دے

O O O O

www.pukhto.net

O

نن به زۀ څۀ نۀ وايمه تۀ راته څۀ اُووايه
څه کنۀ ! د سترې ژوندانۀ راته څۀ اُووايه

زۀ دې د وخکې پۀ خوزولو باندې نۀ رسم
څۀ چې وئيل غوارې خو پۀ خُلۀ راته څۀ اُووايه

ما کۀ درنه سر او مال پۀ مينه کښې قربان نۀ کړل
بيا به ملامته يم هلۀ راته څۀ اُووايه

ستا د خُلې خبرې د زړګې خبرې چرته دي
دا خبرې مۀ کوه د زړۀ راته څۀ اُووايه

ما باندې د هجر يو ګهړۍ لکه د کال وته
تۀ ګلې پۀ باب د بېلتانۀ راته څۀ اُووايه

مۀ کوه **سراجه** دا د شونډو، اننګو قيصې
څۀ خو د بدبخته پښتانۀ راته څۀ اُووايه

O O OO



O

ورمه ورمه ، نغمه نغمه فضاء د پکښې اوسم
د سوات څۀ زړۀ رابښونکې شان ښکلا ده پکښې اوسم

زما دا ښائيسته سيمه د وطن سوئټزرلېنډ دے
مجنون يمه پۀ دې کښې مې ليلا ده پکښې اوسم

O O

وي لوبغاړے چې د توان طاقت خاوند وي
چې کمزورے شي ناتوان شي تماشبين شي

پۀ ځوانۍ کښې هر ګناه ته غاړه اوځي
چې بوډا شي نو پۀ زړۀ باطن سپين شي

O O

www.pukhto.net

نن راسره بيا نوې وعدې كوي
بيا راباندې نورې شوګيرې كوي

بيا يې راته اُوخاندل د لرې نه
بيا مې د وژلو ارادې كوي

شيخ چرته كښې ډېره ناروا كړې
ځكه په توبو پسې توبې كوي

دا دنيا چالاكو خلقو اوخوړه
خوار شي څوك چې خوې د آئينې كوي

ډېر شته چې ګاونډ ترې مطمئين نۀ وي
شپه او ورځ اوږدې اوږدې سجدې كوي



مونږ د ښادې ورځې خاوندان نۀ شو
نور قومونه عېش كوي، مزې كوي

داسې بې عمله خلق هم شته دے
خلقو ته د پلار نيكۀ قيصې كوي

ډېر مې د زردار په پښو كښې اُوليدل
هسې طوافونه د كعبې كوي

ځنې د **سراج** غوندې بدحاله شي
ځنې ورته ګوري تماشې كوي

O O OO

## يو شعر

هغه خلقو اصل كښې د ژوند نه مزې واغستې
څوك چې د فطرت د رنګينو په غېږ كښې ژوند كوي

www.pukhto.net

هر چا ته په درون نظر کاته کووم
مينه مې په وينه کښې شامله ده

تورو ته چې تور او سپين ته سپين وايم
دومره استثنیٰ راته حاصله ده

O O

هر سړے په خپل غم کښې انښتے دے
دلته څوک د بل غم ته وزګار نۀ دے

ځان له ځان له ژاړی دلته هر سړے
بل سره ژړلو ته تيار نۀ دے

O O



نورو له سيالي او خوشحالي راوړي
مونږ له اخترونه محرومي راوړي

خدايه په مونږ داسې اختر راولې
ځان سره چې مونږ له پسرلي راوړي
غنې يې په پوزه کښې ټومبلې دي
دې له به لۀ کومې مېخه کي راوړي
هلته د اختر خوندونه کله وي
چرته چې وختونه بدحالي راوړي
هله به د جبر مانۍ ورانې شي
ميانې کۀ سرتېره ګُلالي راوړي
شل کاله ځلمي مسافري اوکړه
اوس به خپلې ناوې له کالي راوړي

زړۀ چې په ګوګل د ننه اوسوزي
شونډو له **سراجه** اسويلي راوړي

O O O O

www.pukhto.net

نـۀ سـالار شـته، نۀ رهبـر شـته، بې منزلـه مـو مـزل دے
دا پـۀ کـوم لـوري روان یو، کـوم طرفتـه زمـونږ زغـل دے

نور پېدا شي عشرت اوکړي، د ژوندون خوندونه واخلي
پـۀ مـونږ هـره ورځ مـاتم دے، زمـونږ هـره ورځ اجـل دے
د بـارودو پـۀ لوګـو کښـې، د اُورونـو پـۀ لمبـو کښـې
پښـتانۀ ايـره ايـره شول، پېښـور دے کـۀ کابـل دے
پـۀ بې سره چاپېريـال کښـې، د خپـل ځـان پـۀ وير اختـه يو
هـيڅ پـۀ چـل يـې نـۀ پـوهېږو، دا وطـن دے کـۀ ځنګـل دے
نـۀ نظام نـۀ انتظام شـته، نۀ انصاف شـته، نۀ منصف شـته
دا لا څنګـه آبـادي ده، دا لا څنګـه چاپېرچـل دے
هـر يـو بـل تـه نصـيحت کړي، خـو پخپلـه نـۀ سـمېږي
څوک پخپله باندې غـل دے، څوک د غلـود لارې مـل دے

دا متـل دے "شـيخ فريـده چـې خلـۀ پټـه بهتـري ده"
رېښـتيا مـۀ وايـه **سـراجه**، غلـے کښـېنه وخـت بـدل دے

O O O O



هـر څـوک تـرې نيمګـړے نيمـه خـواه تلـے
ژونـد څـۀ دے خـو شـنډې ارمانونـه دی

يـه سـېراجه زړۀ ورپـورې مـۀ تـړه
لـرې خوشـحالۍ دی ډېـر غمونـه دی

O O

هغـه سـړی تـه سـړے نـۀ وايمـه
چـې حېثيـت پـۀ چـل يـا زور جـوړ کـړی

زۀ د هغـه سـړی کمـال منمـه
چـې د بـل زړۀ کښـې ځـان لـه کـور جـوړ کـړی

O O

www.pukhto.net

## O

وخانده اوربل په بله واړه وه
زړه مې په ګوګل په بله واړه وه

پرېده چې د غرونو لېونې شمه
سترګې دې په چل په بله واړه وه
ښه ده چې د عقل نه بې غمه شي
واړه چاپېرچل په بله واړه وه
نمر مخ راښکاره کړه وريځ لرې کړه
زلفې الوول په بله واړه وه
ښکارې چې لاسونه دې سره کړې دي
ماته دې منګول په بله واړه وه
سترې شوې نازکه نازنينه يې
سر نه مې څنګل په بله واړه وه

يه **سراجه** نن په روماني انداز
خيال دې د غزل په بله واړه وه

O O O



## الميه

ورونو دا نظام غلط دے
دا په مونږ چې مسلط دے

په خندا پسې ژړانده شو
ژړاګانې مو عادت دے

بدمعشان پکښې ځربېږي
قتل شوے شرافت دے

دلته هغه خوار ذليل دے
چې ناتوان په څۀ نسبت دے

غريبان ګڼې بيزې دي
د لېوانو حکومت دے

چې پېسه ورسره نشته
هغه پړ دے ملامت دے

www.pukhto.net

چې عېشونه کړي، مستۍ کړي
د هغوې مقام اوچت دے

پۀ پېسه مرګونه کېږي
دا لا څنګ انسانيت دے

نۀ انصاف شته نه منصف شته
د رسوخو عدالت دے

پۀ هر ښار کښې کربلا ده
پۀ هر کلي کښې قيامت دے

د پښتون وينه ارزانه
غورزېدلے يې قيمت دے

هغه غوړ بريتونه ګرځي
چې د چا سره دولت دے

O O O



O

هر څۀ وران دی کۀ زما نظر خراب دے
څۀ چې وينم اپوته راته ښکارېږي

هم هغه راله دا زړۀ توتې توتې کړي
چې د خپل زړګي ټوټه راته ښکارېږي

O O

هغه ځاے کښې به څوک خنګه ژوندون اوکړي
سرپټوب چې پۀ کوم ځائے کښې پۀ پېسه شي

دنيا پاتې د زيست نۀ شوه ذوالجلاله
راپاستر يې کړه چې ختمه دا قيصه شي

O O

www.pukhto.net

هغه ښکلې مې د زړۀ د کلي خان دے
کبرجن دے خو بیا هم رابانديږي ګران دے

همېشه تربنه فائده اغیار ته رسي
پښتون نر دے، تنګیالے دے خو نادان دے
ځان ترې هېر وي خو پۀ بل کښې اسلام غواړي
څۀ بې خونده، بې عمله مسلمان دے
چې قام خرڅ کړي د اغیارو ملګرتیا کړي
اُف توبه، افسوس افسوس، ارمان ارمان دے
نور عالم ته عالمونه حېرانېږي
یو پښتون دے چې پۀ ځان پورې حېران دے
پۀ یو داسې چاپېرچل کښې زندګي کړم
ورېدلے پرې د وسپنو باران دے

زۀ **سراج** به د پښتو ژبې زارېږم
چې تر څو مې تن کښې ساه، زړۀ کښې مې توان دے

O O O O



نن مې خپل زړۀ سره خبره اوکړه
نور ستا پۀ خوښه ګرځېدۀ نۀ کوؤم

زړۀ راته اووې چې زما نۀ منې
ستا پۀ سینه کښې درزېدۀ نۀ کوؤم

O O

هغه خلقو ته حېران ګوته پۀ خله شم
چې د کوم چا سره ښۀ بېسیاره مال وي

پۀ حلالو پسې خلق حلالېږي
ګمان نۀ کوؤم چې دغه به حلال وي

O O

www.pukhto.net

هیڅ غمونه به مې نۀ وے
اے جانانه چې تۀ ښۀ وے

ستا د خلې پۀ تماشه شم
پوهه نۀ شمه چې څۀ وے
نور پۀ هیڅ مې څۀ کار نشته
ستا یادونه وے او زۀ وے
چې ستا سر زما څنګل وے
ما دیدن کړے تۀ اودۀ وے
چې پۀ غېږه کښې دې پروت وے
او د ژمې یخه شپه وے
روماني غوندې منظر وے
مونږ یو بل ته پۀ کاتۀ وے

د **سراج** دغه ارمان دے
زۀ دې ساه وے تۀ مې زړۀ وے

O O O O



یا مې اوبله او یا مې خوا له راشه
یا مې مړ که یا د خوږ زړګی دوا شه

یا مې دومره مرور که چې شم صبر
یا مې مۀ رنځوه بس که نور پۀ خُلا شه

O O

یو سړے دے چې ډېر زیات راباندې ګران وو
لاژوند ے دے خو زما د پاره مړ دے

د نظر د ګړنګونو نه مې پرېوت
پۀ څلور واړه مذهبه راته پړ دے

**پای**

# شاعر استاذ صېب

هسې ورته خلک استاذ صېب نۀ وايي . پۀ رېښتيا استاذ دے . شپېتۀ کلن سړے چې د سوات د بره سره کوهاټ ته او د کوهاټ د کوزه سره بيا سوات ته پۀ موټر سائيکل تلے راتلے شي نو بيا به ورته د موټر سائيکل استاذ نۀ وايو . پۀ غم کښې ، ښادۍ کښې ، پۀ ملاسته او پۀ ناسته ولاړه چې پۀ زرګونو نا ليدلو دوستانو ته چې پۀ فېس بک سوات ته د راتلو دعوتونه ورکوي نو فېس بکي استاذ شوکنه . او د سکول مثالي استاذ ورته ځکه وايم چې خپل ټول شاګردان ورسره د خپل پلار هسې مينه کوي او چې پۀ تېر عمر د درې کم شپېتوؤ نه تر شپېتوؤ پورې دوه سوه صفحې د خپلې مقصدي شېرينې او رنګينې شاعرۍ کتاب پښتون قام ته ډالۍ کولے شي او پهې پۀ پرهرونو لګولے شي نو دا نور څوک کېدے شي . هم دے دے چې د رڼا ، فکر او سپېڅلو جذبو څښتن دے ، سراج الدين سراج دے کنۀ –لکه چې وايي:

ښکارى چې ځوانى لاړه بوډا شومه
نرم خوراک سخت رابانديې اولګى
ځان باندې چې ډېره خوارى اوکړمه
ښکلے شم خو وخت رابانديې اولګى

عزيز مانېروال
قام قلم صوابۍ
13 ستمبر 2015 ء